د افغانستان اسلامي امارت

وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

MINISTRY OF TRANSPORT & AVIATION

Islamic Emirate of Afghanistan

د تاسیس کال ۱۳۵۸

## ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي



## لاجورد دهليز او اقتصادي فرصتونه


پرله‌پسي 1 ګڼه

د ۱٤۰٤ کال څلورمه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْـحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ۔ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ
عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ۔ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِينَ۔



**بسم الله الرحمن الرحيم**

**په مطبوعاتو، مخابرو او ليکنو کې د سپکو سپورو د نه ويلو په هکله**

**د عاليقدر امير المؤمنين حفظه‌الله فرمان**

گڼه: (۴۶/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

مجاهدين به په مطبوعاتو او مخابرو او نورو ليکنو او محاوراتو کې دښمن ته ښکنځل او سپکې سپورې نه وايي چې دښمن د مجاهدينو سپکاوي ته بهانه جوړه کړي او دا مناسب عمل هم نه دی بايد اجتناب ورڅخه وشي.

والسلام

امير المؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي

هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی

# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي

د ۱۴۰۴ل کال څلورمه، پرلپسې یولسمه ګڼه


| | |
|---|---|
| امتیاز خاوند: | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| خپروونکی: | د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | نورالله غازي |
| کتنپلاوی: | مولوي محمد موسی غزنوي، مولوي راز محمد المظهري<br>احمد جاوید فیضي، سید جاوید محبوب,<br>احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي, عزیز الرحمن فراجغاني |
| خبریالان: | عبدالحلیم حلیمي، مجیب‌الرحمن مشعل او فرمان‌الله ارشاد |
| عکس اخیستونکي: | روح الله هنرجو، محمد ایمل سمون |
| ډیزاینر: | عبدالغني افغان |
| پته: | انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| اړیکې شمېره: | ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+ |
| ایکسپاڼه: | DChlnd@ |
| ویبپاڼه: | www.mota.gov.af |


یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.
ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي،
چې بل ځای نه وي خپرې شوې.

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| لاجورد دهلېز او اقتصادي فرصتونه (سرليکنه) | ۱ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام! | ۲ |
| د افغانستان هوايي ډګرونه ( لړۍ ) | ۳ |
| په اسلامي نظام کې د رهبرۍ ارزښت او مسئوليت | ۹ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تاريخچه | ۱۳ |
| کړنې او لاسته‌راوړنې | ۱۹ |
| د سيمه‌ييزو همکاريو د پراختيا په لور ګامونه | ۲۱ |
| تقويت نظم ترانسپورتی در کشور | ۲۳ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۴ل کال پراختيايي پروژې | ۲۵ |
| انتقال مصؤن مسافران ميان افغانستان و ايران | ۲۷ |
| د نړيوال واټ ټرانسپورټ پراختيا لپاره مهم ګام | ۲۸ |
| تطبيق سيستم ردياب در وسايط ترانسپورتی | ۲۹ |
| د خوندي او معياري هوايي خدمتونو په لور ګامونه | ۳۱ |
| نصب و فعال‌سازی دستگاه‌های پيشرفته هواشناسی | ۳۳ |
| افغانستان ته د الوتنو زياتوالی | ۳٤ |
| د درېيو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او... | ۳۵ |
| په هوايي چلند کې دمرغانو او ژوو د خطرونو مديريت | ۳۹ |
| په دوبۍ کې د نړۍ چټک ښاري ټرانسپورټي سيسټم پيل | ٤۱ |




# لاجورد دهلېز
# او اقتصادي فرصتونه

سرلیکنه

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د تمدنونو، کلتورونو او سوداګریزو کاروانونو د تېرېدو ځلورلارې پاتې شوی دی. د همدې تاریخي نقش یوه مهمه بېلګه د لاجوردو لرغونې لاره ده، هغه مسیر چې زرګونه کاله وړاندې یې د افغانستان لاجورد د مصر، بین‌النهرین او اروپا بازارونو ته رسول.

دا لاره د توکو لېږدولو تر څنګ د کلتورونو، افکارو او تمدنونو د نښلولو یو مهم پُل هم و. د ورېښمو له مشهورې او لویې لارې سره، چې د لاجورد له لارې څخه وروسته مشهوره شوه، د لاجورد مسیر یو ځای کېدل د افغانستان جغرافیوي اهمیت لا پسې زیات او روښانه کړ. د همدې تاریخي مسیر معاصره بڼه د «لاجورد دهلېز» په نوم بیا راژوندی شوې ده، داسې یو اقتصادي دهلېز چې افغانستان له ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې له لارې اروپا سره نښلوي. دا دهلېز د وچې لارې له هغو مهمو بدیلو لارو څخه ده، چې افغانستان له دوديزو محدودو لارو راوباسي او نړیوالو بازارونو ته یې لاسرسی اسانه کوي.

د لاجوردو دهلېز اقتصادي ارزښت څو اړخیز دی، له یوې خوا د صادراتو د پراختیا، د ټرانزېټ د چټکتیا او د سوداګریزو لګښتونو د کمښت زمینه برابروي او له بلې خوا د سیمه‌ییز اتصال، سیاسي تعامل او اقتصادي همکارۍ لپاره نوې دروازې پرانیزي. د دې مسیر له لارې د افغانستان کرنیز محصولات، لاسي صنایع او معدني سرچینې په چټک او خوندي ډول نړیوالو بازارونو ته رسېږي، چې له دې سره کورنی اقتصاد پیاوړی کېږي او کاري فرصتونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. په همدې لړ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وروستي عملي ګامونه د پام وړ دي. د تورغونډۍ بندر له لارې د لاجوردو مسیر په کارولو سره د صادراتي محمولو لېږد د دې څرګندونه کوي چې افغانستان د سیمه‌ییز ټرانزېټ په برخه کې عملي مرحلې ته داخل شوی دی.

د ۱۴۰۴ل کال په وروستیو میاشتو کې له تورغونډۍ بندر څخه اته صادراتي محمولې، چې وچې مېوې، مربا، بخاردیګونه او نور توکي پکې شامل وو، د ترکمنستان، اذربایجان، جورجیا او ترکیې له لارې اروپا او نورو نړیوالو بازارونو لکه سعودي عربستان، امریکا متحده ایالاتو، استرالیا او هالېنډ هېوادونو ته ورسیدې. سربېره پر دې د اړوندو وزارتونو او خصوصي سکتور ترمنځ وروستۍ ناستې او همغږې په ځانګړي ډول د نړیوال واټ ټرانسپورټ (TIR) سیسټم د پلي کېدو هڅې، د دې ښکارندويي کوي، چې افغانستان هڅه کوي خپل ټرانزېټي ظرفیتونه معیاري او عصري کړي. د تیر سیسټم پلي کېدل کولای شي د سرحدي تشریفاتو د کمښت، د وخت د سپما او د سوداګریزو توکو د خوندي لېږد په برخه کې مهم بدلون راولي. په ټوله کې د لاجوردو دهلېز فعالول د افغانستان د اقتصادي خپلواکۍ، سیمه‌ییز رول او نړیوال اتصال لپاره یو ستراتیژیک ګام دی.

که د دې مسیر د پیاوړتیا لپاره رواني هڅې دوام ومومي، افغانستان به د سیمې د اتصال په محور بدل او خپل تاریخي نقش به یې په نوې بڼه راژوندی کړی وي.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

## د قدرمن مقام لنډ پيغام!

په ۱۴۰۴ لمريز کال کې د افغانستان په ټرانسپورټي او هوايي چلند سکټور کې ډېر بنسټيز او مهم کارونه ترسره شوي دي. د هوايي ډګرونو پراختيا او معياري کولو په موخه ډېرې پروژې پلي شوې، چې په نتيجه کې يې د هېواد له پنځو نړيوالو او ۲۲ کورنيو هوايي ډګرونو څخه څه باندې ۱۲ زره داخلي او نړيوالې الوتنې ترسره شوې او لږ تر لږه ۱.٦ ميليونه مسافر لېږدول شوي دي. اوس مهال د دوو کورنيو شرکتونو تر څنګ ۱۰ نړيوال هوايي شرکتونه افغانستان ته منظمې الوتنې کوي، چې دا زموږ د هوايي سکټور د پرمختګ ښه بېلګه ده.

په ځمکني ټرانسپورټ کې هم مهمې لاسته راوړنې ترلاسه شوې؛ د يو کال په موده کې ۱۸۵ نوي ټرانسپورټي شرکتونو جوازونه ترلاسه کړي، د ټرانسپورټي تاسيساتو، چې په دې کې ترمينلونه، تيرپارکونه، اداري ودانۍ او نور تاسيسات شامل دي، څه باندې ۳٦ پروژې پيل شوې چې ارزښت يې له درې ميلیارده افغانيو څخه هم زيات دی.

يو له مهمو لاسته راوړنو څخه د (لاجورد) له تاريخي لارې نړيوالو بازارونو ته د افغانستان سوداګريزو محمولو لېږد دی، چې د ۱٤٠٤ل کال په وروستيو مياشتو کې له تورغونډۍ بندر څخه اته صادراتي محمولې، چې وچې مېوې او نور توکي پکې شامل وو د ترکمنستان، اذربايجان، جورجيا او ترکيې له لارې اروپا او نورو نړيوالو هېوادونو بازارونو ته رسېدلي، چې دا زموږ د سوداګرۍ د تنوع او پراختيا لپاره يو ستر ګام دی. اوس افغانستان هغه ازاد هېواد دی، چې د هېڅ يو هېواد په انحصار کې نه دی. موږ له ډېرو هېوادونو سره ښې اړيکې لرو، چې دا اړيکې د سوداګرۍ تر څنګ په ټرانسپورټي پراختيا او ټرانزيټ کې هم مهم رول لري. زموږ هوايي حريم هم د زرګونو عبوري الوتنو شاهد و، چې دا زموږ د جغرافيايي موقعيت ستراتيژيک ارزښت او د فضا خونديتوب ښيي. دا ټولې لاسته راوړنې د وزارت د همکارانو او ټولو هېوادوالو په ګډه هڅو سره ترلاسه شوې دي. موږ ژمن يو چې په راتلونکي کې هم د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ خدمات نور هم معياري او پراخ کړو، ترڅو زموږ هېواد د سيمې يو مهم ټرانسپورټي مرکز وګرځي.

**الحاج ملا محمد فاضل مظلوم**

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير**

# د افغانستان

## هوايي ډګرونه

(لړۍ)



پرله‌پسې اتمه برخه

افغانستان چې د جغرافیايي موقعیت له کبله په هسکو غرونو پوښل شوی هېواد دی او ځینې سیمې یې له طبیعي پلوه له مرکز لرې پرتې دي؛ نو له همدې کبله اړتیا لري، چې د هوا له لارې له مرکز او نورو ولایتونو سره ونښلول شي. هوايي ډګرونه د هېواد د جغرافیايي واټنونو د لنډولو، د بېړنیو حالاتو د مدیریت، اقتصادي راکړې ورکړې او ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا مهمې دروازې بلل کېږي. په دې لیکنه کې د هېواد شپږو مهمو هوايي ډګرونو ته کتنه شوې ده: د بدخشان درې هوايي ډګرونه (درواز، شغنان او خواهان) چې د غرني او سرحدي جغرافیې له امله ځانګړی ارزښت لري او همداراز د ګردېز، زابل او میمنې هوايي ډګرونه چې هر یو په خپله سیمه کې د نښلونې، پرمختګ او خدمتونو مهم مرکزونه دي. که څه هم د دغو هوايي ډګرونو تخنیکي کچه، تاریخ او ظرفیتونه یو له بله توپیر لري، خو ټول په ګډه د افغانستان د هوايي شبکې مهمې کړۍ جوړوي. دا مقاله هڅه کوي چې د دغو هوايي ډګرونو تاریخي مخینه، تخنیکي ځانګړتیاوې او اوسني وضعیت رڼا واچوي، تر څو لوستونکي د هېواد د هوايي بنسټونو له اهمیت او رول څخه هر اړخیز انځور تر لاسه کړي.




## د بدخشان درې هوايي ډګرونه

بدخشان د افغانستان له هغو ولايتونو څخه دی، چې جغرافيه يې سخته، غرونه يې هسک او لارې يې اوږدې دي؛ خو همدغه جغرافيې ته په ليدو اړتيا پيښيږي، چې د هوا له لارې له مرکز سره ونښلول شي او په دې برخه کې ورته ځانګړې پاملرنه وشي. دا ولايت څلور هوايي ډګرونه لري، چې يو يې د فيض‌اباد هوايي ډګر دی او معلومات يې په تېره ګڼه کې خپاره شوي دي. په دې ليکنه کې د بدخشان د دريو نورو هوايي ډګرونو: درواز، شغنان او خواهان لنډ تاريخ او ځانګړتياوې درسره شريکوو.

## درواز هوايي ډګر

درواز هوايي ډګر د بدخشان ولايت په درواز ولسوالۍ کې موقعيت لري. دا هوايي ډګر د سمندر له سطحې شاوخوا ۱۳۲۰ متره لوړوالی لري او د جغرافيايي موقعيت له کبله د اهميت وړ بلل کېږي. د دې هوايي ډګر د سروې چارې په ۱۳۵۴ کال کې د انجنير هلمن او انجنير محمد ظاهر له لوري بشپړې شوې. د ودانولو چارې يې د مالي مرستو په مټ د انجنير بنايي تر نظر لاندې ترسره شوې او په ۱۳۴۵ل کال کې يې چارې پای ته رسيدلې دي.
درواز هوايي ډګر شاوخوا ٦٥۴ متره اوږده او ۳۰ متره پلنه شګلنه ځغاستليکه لري. درواز جغرافيايي پلوه له مرکزي سيمو لرې پرته سيمه ده؛ همدا لرې‌والی د دې هوايي ډګر ارزښت زياتوي. دا هوايي ډګر په بېړنيو حالاتو کې د مرستو او بېړنيو خدمتونو لپاره حياتي رول لري.
نږدې نور هوايي ډګرونه شغنان او خواهان دي، چې ټول د بدخشان په جنوبي او سوېل ختيځو سيمو کې موقعيت لري. دا هوايي ډګرونه د بدخشان ولايت لپاره د هوايي شبکې يوه مهمه کړۍ ده، چې د غرنيو سيمو د نښلولو لپاره ځانګړی اهميت لري.

# شغنان هوايي ډګر

شغنان هوايي ډګر د بدخشان ولايت په لرې پرته او يوې غرنۍ ولسوالۍ د شغنان په سيمه کې موقعيت لري. دا کوچنی هوايي ډګر د پامير د غرونو په لمنه کې، د افغانستان د شمال ختيځ په پای کې جوړ شوی او له جغرافيايي پلوه ځانګړی اهميت لري.
د شغنان هوايي ډګر د سروې چارې په ۱۳۴۵ل کال د انجنير هلمن او انجنير محمد ظاهر له لوري ترسره شوې. د دې هوايي ډګر اوږدوالی شاوخوا ۷۵۰ متره او پلنوالی يې ۳۰ متره ټاکل شوی و. د ودانولو چارې يې د سيمې د اوسېدونکو په مرسته، د انجنير محمد ظاهر تر نظر لاندې دوه کاله وروسته په ۱۳۴۷ل کال کې بشپړې شوې، چې په دې لړ کې اړوندې ودانۍ هم جوړې شوې. دا هوايي ډګر شګلنه ځغاستليکه لري او د سمندر له سطحې شاوخوا ۲۰۴۲ متره (۶۷۰۰ فوټه) لوړوالی لري او د کوچنيو الوتکو د ناستې او پورته کېدو لپاره مناسب ګڼل کېږي.
د شغنان هوايي ډګر تر ټولو مهمه ځانګړنه سرحدي موقعيت دی. د دې هوايي ډګر پورې غاړې ته په تاجکستان کې د خاروغ هوايي ډګر موقعيت لري. دواړه هوايي ډګرونه يوازې شاوخوا (۰.۶) کيلومتره واټن لري او د سيند په وسيله سره بېل شوي دي. همدغه نږدېوالی شغنان هوايي ډګر ته سيمه‌ييز او ستراتېژيک اهميت وربښي.
په ټوله کې شغنان هوايي ډګر که څه هم کوچنی دی، خو د جغرافيايي موقعيت او سرحدي ارزښت له مخې د بدخشان د هوايي شبکې مهم هوايي ډګر بلل کېږي.

# خواهان هوايي ډګر

خواهان هوايي ډګر د بدخشان ولايت په غرنۍ او سرحدي سيمه کې موقعيت لري او د سمندر له کچې شاوخوا ۱۰۴۰ متره لوړوالی لري او د جغرافيايي محدوديتونو له امله ځانګړی ارزښت لري.
خواهان هوايي ډګر د ځغاستليکې لومړنی اوږدوالی ۶۵۰ متره او سور يې ۳۰ متره و. دا هوايي ډګر په ۱۳۴۵ل کال کې د انجنير هلمن او انجنير محمد ظاهر له لوري سروې شو او په ۱۳۴۷ل کال کې د سيمې د خلکو په مرسته د کوچنيو الوتکو د ناستې او پورته کېدو لپاره چمتو شو. د خلکو ونډه د دې پروژې په عملي کېدو کې د يادونې وړ ده. وروسته له سياسي بدلونونو، د (ياک-۴۰) ډوله الوتکو د ناستې او پورته کېدو لپاره د ځغاستليکې اوږدوالی ۱۰۵۰ مترو ته وغځول شو.
د درواز، شغنان او خواهان هوايي ډګرونه که څه هم د اندازې له پلوه کوچني دي، خو د ستراتېژيک اهميت له مخې ارزښتناک بلل کېږي. د بدخشان غرنۍ جغرافيه، لرې والی او موسمي ستونزې دا ايجابوي چې هوايي زېربناوې پياوړې وساتل شي.
که د دغو هوايي ډګرونو تخنيکي پراختيا، د ځغاستليکو معياري کول او اړوند تأسيساتو ته پاملرنه وشي، نو بدخشان به د هېواد له نورو برخو سره لا چټکه او خوندي هوايي اړيکه ولري.

## ګردېز هوايي ډګر

ګردېز هوايي ډګر چې د پکتيا ولايت په مرکز کې موقعيت لري، دا هوايي ډګر د پاچا محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ پر مهال په ۱۳۴۵ل کال د سروې چارې د هماغه وخت د ټولګټو وزارت د متخصصينو له لوري، د انجنير ګل علم په همکارۍ ترسره شوې. د ياد هوايي ډګر د ځغاستليکې اوږدوالی شاوخوا ۲۰۰۰ متره او پلنوالی يې ۴۵ متره په پام کې نيول شوی و او د ياد هوايي ډګر، چې په شاوخوا ۳۱۳ جريبه ځمکه کې جوړ شوی دی، نورې ودانيزې چارې يې په ۱۳۵۹ل کال کې بشپړې شوې، چې هغه مهال د پکتيا ولايت لپاره يو ستر پرمختګ بلل کېده.

ترمينل، ټاور او رمپ

د ګردېز هوايي ډګر اوسنی ترمينل په ۱۳۸۴ل کال کې جوړ شوی دی. دا ترمينل په يو وخت کې د شاوخوا پنځوسو کسانو د ځايېدو ظرفيت لري او همدارنګه د څار برج او رمپ (د الوتکو د تمځای ساحه) لري، چې هغه هم د ترمينل سره يو ځای جوړ شوي دي، چې بيا رغونې ته اړتيا لري. د متخصصينو په باور که چېرې د ګردېز هوايي ډګر ځغاستليکه او اړوند تاسيسات ورغول شي، نو د الوتنو ظرفيت به لوړ شي او د نورو لويو الوتکو د ناستې او پورته کېدو زمينه به هم برابره شي. اوس مهال د ګردېز هوايي ډګر څخه يوازې کوچنۍ الوتکې ګټه اخلي او په اونۍ کې ترې دوه الوتنې ترسره کېږي. همداراز د چورلکو لپاره کارول کېږي.

اوس په ګردېز هوايي ډګر کې د هواپېژندنې پرمختللی سټېشن لګول شوی دی، چې پر وخت او دقيق معلومات وړاندې کوي او د الوتکو د خونديتوب لپاره حياتي ارزښت لري.

که د ګردېز هوايي ډګر بيا رغونې ته پاملرنه وشي، له دې سره به د الوتنو ظرفيت لوړ او د دې ولايت خلکو ته به اسانتياوې برابر شي او دا ولايت به د هوا له لارې له نورو ولايتونو او پلازمېنې سره ونښلول شي.

## زابل هوايي دګر

د زابل هوايي ډګر چې د کلات ښار شمال په شپږ کيلو مترۍ کې موقعيت لري، په شاوخوا ۷۶۰ جرېبه ځمکه کې جوړ شوی، چې د پراخوالي له مخې د سوېلي سيمو له مهمو هوايي ډګرونو څخه شمېرل کېږي.

د زابل هوايي ډګر يو مهم امتياز د هغه اساسي ترمينل ودانۍ ده، چې چارې يې په ۱۳۹۳ل کال د لړم مياشتې په ۲۲مه نېټه د ۲۷ميليونه افغانيو په لګښت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مالي لګښت پيل او د يو کال په موده کې سر ته ورسيدې. دا ترمينل درې پوړيزه ودانۍ لري، چې په بنسټيز ډول جوړه شوې او د اداري او مسافرو د خدمتونو لپاره مناسب جوړښت لري.

په ياد هوايي ډګر کې ځغاستليکه، د الوتکو تم ځای او ټکسي‌وې (د الوتکو د تګ راتګ فرعي ليکې) جوړې شوې دي؛ خو دا ټولې برخې تر اوسه په خامه بڼه دي، چې په اساسي ډول جوړونې ته اړتيا لري. که د دې برخو اساسي جوړونه او بيارغونه وشي، نو زابل هوايي ډګر به د کورنيو الوتنو ترڅنګ، د نورو تخنيکي خدمتونو وړتياوو څخه هم برخمن شي.


د هوايي ډګر له څلور خواوو اغزن سيم (فېنس) چاپېر شوی دی، خو د دې سيم ځينې برخې د وخت په تېريدو خرابې شوې دي، چې اوس مهال د همدې فېنس د بيارغونې پروژه د اعلان په پړاو کې ده.

د دې پروژې موخه دا ده چې هغه برخې چې تخریب شوې، بېرته ورغول شي او د هوايي ډګر امنيتي چاپېريال لا پياوړی شي.
همدارنګه په دې وروستيو کې د کورنيو چارو وزارت له خوا پکې د سرحدي پوليسو لپاره په يوې ودانۍ هم کار روان دی، چې ۱۷ ميليونه افغانۍ پرې لګښت راځي.
سره له دې چې تر اوسه له زابل هوايي ډګر څخه الوتنې نه ترسره کېږي، خو د پراخې ځمکې، درې پوړيز ترمينل، ځغاستليکې او نور تاسيسات ښيي چې دا پروژه د فعالېدو پوره وړتيا لري.
که اړوندې تخنيکي چارې بشپړې او بنسټيزې رغونې ترسره شي، نو زابل هوايي ډګر به د ولايت د اقتصادي، سوداګريز او اداري پرمختګ لپاره يوه مهمه دروازه شي.

## ميمنه هوايي ډګر

ميمنه هوايي ډګر چې د فارياب ولايت په مرکز د ميمنې په ښار کې موقعيت لري، يو له پخوانيو هوايي بنسټونو څخه شمېرل کېږي. د دې هوايي ډګر پروژه په ۱۳۳۵ل کال کې د ايکاو (ICAO) د متخصصينو، ښاغلي هلمن او انجنير محمد نبي علومي له لوري بشپړه شوه. وروسته د ودانيزو چارو عملي کار د انجنير ګل علم تر نظر لاندې په ۱۳۴۸ کال کې پيل او په ۱۳۴۹ کال کې پای ته ورسېد.
د ياد هوايي ډګر ځغاستليکه شاوخوا ۲۰۰۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره پلنوالی لري، چې د منځنۍ کچې الوتکو د ناستې او پورته کېدو وړتيا لري. له دې هوايي ډګر څخه د (اين-۲۶) او (ياک-۴۰) په څېر الوتکې ناسته او الوتنه کولی شي.
ميمنه هوايي ډګر، چې په ۲۵۴ جريبه ځمکه کې جوړ شوی دی، اداري ودانۍ، يو مجهز ترمينل او يو د څار برج لري. دغه تأسيسات د مسافرو د خدمتونو، اداري چارو او د الوتنو د تنظيم لپاره بنسټيز رول لري. د ترمينل ودانۍ د مسافرو د تګ راتګ لپاره لازمې اسانتياوې برابروي.
وروستي پرمختګونه:
اوسمهال ميمنې هوايي ډګر ته ځانګړې پاملرنه شوې ده، فعال ترمينل لري، چې په يو وخت د ۶۰۰ مسافرو ظرفيت لري، د ۷۷۹ميليونو افغانيو په لګښت پکې د لمريزې برېښنا سيستم فعاله شوی دی، د ويست (VHF[1]) دستګاه پکې فعاله شوه، چې د هوايي مخابراتو په برخه کې مهم پرمختګ بلل کېږي. دغه دستګاه د الوتکو او ځمکني کنټرول ترمنځ د مؤثرې اړيکې لپاره کارول کېږي. همداراز په دې هوايي ډګر کې اتومات هوا پېژندنې سټېشن نصب او فعال شوی دی، چې د دقيقو هوايي معلوماتو په وړاندې کولو سره د الوتنو د خونديتوب کچه لوړه کړې ده.
د هوايي ډګر د لا ډېرې ساتنې او امنيت لپاره، د هوايي ډګر په شاوخوا ۱۵۰۰ مترو په اندازه فېنس لګول شوی او يوه معياري دروازه ورته جوړه شوې ده. دا اقدامات د امنيتي معيارونو د پياوړتيا په موخه ترسره شوي دي او په وروستيو کې د ميمنه هوايي ډګر په ساحه کې د يو مجهز جومات د جوړېدو چارې هم رواني دي، چې د کارکوونکو او مسافرو لپاره د عبادت مناسب ځای برابر کړي اوسمهال له ياد هوايي ډګر څخه د اونۍ تر پينځه او شپږو پورې کورنۍ الوتنې ترسره کېږي.
ميمنه هوايي ډګر د شمال لوېديځې سيمې لپاره مهم هوايي مرکز بلل کېږي، د تخنيکي وسايلو بيا فعالېدنه، د هوا پېژندنې اتومات سيستم، امنيتي فېنس او د نوو تأسيساتو جوړېدل ښيي چې دا هوايي ډګر د پياوړتيا او پراختيا په لور ګامونه اخلي او په راتلونکي کې به نورې اسانتياوې هم پکې برابرې شي.

1 Very High Frequency



د بدخشان له ښکلیو درو او غرونو نیولې تر ګردېز، زابل او میمنې پورې، دا هوايي ډګرونه د افغانستان د جغرافیې له واقعیتونو سره سم جوړ شوي او د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره رامنځته شوي دي. ځینې یې کوچني خو ستراتېژیک ارزښت لري، ځینې یې پراخ بنسټونه لري خو لا هم بنسټیزې بیارغونې ته اړتیا لري، او ځینې یې له تخنیکي پلوه د بیا فعالېدو او پیاوړتیا په حال کې دي. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د نړیوالو هوايي ډګرونو تر څنګ کورنیو هوايي ډګرونو پیاوړتیا او پراختیا ته هم پوره پاملرنه کړې ده، تر څو چې د خپلو ولایتونو او د هېواد د پرمختګ لامل وګرځي او د دې تر څنګ د ملي یووالي، اقتصادي ودې او سیمه‌ییز اتصال په برخه کې مهم رول ولوبوي.



# په اسلامي نظام کې

## د رهبرۍ ارزښت او مسئولیت

مفتي عزیزالرحمن عزیزي

اسلامي نظام هغه بشپړ ټولنیز، سیاسي او حقوقي نظام ته ویل کېږي، چې د انسان د ژوند ټولې برخې تنظیموي، چې سرچینه یې اسلام او بنسټ یې شریعت پلي کول دي. زموږ ديني اړخ یوازې عبادت نه دی، بلکې عقیده، اقتصاد او سیاست هم اړینه برخه ده، چې اسلامي امت ورته خورا اړتیا لري. د انسان ټول ژوند اجتماعي او فکري دی، انسانان ټول جوړه جوړه پیدا شوي دي، لکه په قرآن کریم کې څرګندونه شوې: وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا [سُورَةُ النَّبَإِ : ٨] تاسې (نارینه او ښځې) مو جوړه جوړه پیدا کړي یاست.

د انسان ژوند له اړتیاوو جوړ دی، هیڅ یو انسان داسې نه شته چې یو بل ته اړتیا ونه لري، لکه پښتو کې یو متل دی چې وایي: بنده بند ده. یعنې تل بل ته اړتیا لري یو لاس بل لاس ته اړتیا لري، خو دا اړتیاوې ځینې فردي او ځینې نورې ټولنیزې وي. دغه راز د قیادت د سیوري لاندې ژوند تر ټولو ستره اړتیا ده، هره یوه ټولنه رهبر او مشر ته اړتیا لري، که چېرې یو شپون د خپلې رمې ساتنه په سمه توګه ونه کړي، نو د لیوانو ښکار به شي. له همدې کبله هر دوه تنه چې چیرته په سفر ځي باید یو آمر او رهبر وګماري، دا خو بیخي لرې خبره ده چې یوه ټولنه دې بې سرپرسته او پرته له رهبرۍ ژوند وکړي. انسانان خو لا څه حیوانات هم یو مشر ته اړتیا لري، کوم یو کور، کلی او یا هېواد چې سم رهبر ونه لري، د هغه دېګ په څېر دی چې سرپوښ ونه لري. دغه راز کوم خلک چې رهبر ونه لري هر وګړی به یې له سترو ستونزو سره لاس او ګریوان او دښمنانو ښکار به ګرځېدلای وي. رهبر او واکمن د الله تعالی له لوري ستر نعمت دی، لکه څرنګه چې الله تعالی خپلو ملایکو ته وویل: زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوم: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى الْأَرْضِ خَلِيفَةً [سُورَةُ البَقَرَة : ٣٠] او [اې پیغمبره (ص)] د هغه وخت یادونه وکړه چې کله ستا رب پرېښتو ته ویلي وو، زه په ځمکه کې د یو خلیفه پیدا کوونکی یم!

اوس راځو دې ته چې خلافت څه ته وايي:
خِلَافَةُ عن صاحب الشرع فِي حِرَاسَةِ الدِّينِ وَسِيَاسَةِ الدُّنْيَا (مقدمه ابن خلدون ص ۱۹۱)
خلافت په حقيقت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دوو خبرو کې نيابت دی: لومړی د دين په ساتنه او دويم د دنيا په سياست کې.
فِي قَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَجَمِيعِ أَهْلِ التَّأْوِيلِ- آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، وَهُوَ خَلِيفَةُ اللَّهِ فِي إِمْضَاءِ أَحْكَامِهِ وَأَوَامِرِهِ، [قرطبي ١- ٢٦٣]
د ابن مسعود او ابن عباس رضی الله عنهما قول دی همداراز اهل تاويل وايي: ادم عليه السلام د الله تعالی د احکامو او اوامرو په پلي کولو کې د الله تعالی خليفه ده.
لکه بل ځای کې الله تعالی داود عليه السلام ته ددې نعمت يادونه کوي: يٰدَاوُدُ إِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ [سُورَةُ صٓ : ٢٦]
(موږ هغه ته وويل) "اې داؤده! موږ ته په ځمکه کې خليفه ګرځولی يې، له دې کبله ته د خلکو په منځ کې په حقه حکم وکړه او د نفسي غوښتنې پيروي مه کوه، چې هغه به تا د الله تعالی له لارې څخه واړوي.
امام د ډال په څېر دی
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : " إِنمَّا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ، وَيُتَّقَى بِهِ، فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ، وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ ". [رواه مسلم رقم الحديث ١٨٤١]
أي : كالستر ; لأنه يمنع العدو من أذى المسلمين ، ويمنع الناس بعضهم من بعض ، ويحمي بيضة الإسلام ، ويتقيه الناس ويخافون سطوته ، ومعنى " يقاتل من ورائه " أي : يقاتل معه الكفار والبغاة والخوارج وسائر أهل الفساد والظلم مطلقا ، المنهاج
له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: امام (مشر) يو سپر دی؛ د هغه تر شا جګړه کېږي او د هغه په وسيله ځان ساتل کېږي، که حاکم د تقوا امر او عدالت وکړي، نو هغه ته اجر دی او که په بل څه امر وکړي (يعنې ناحقه او بېعدالتي وکړي)، نو ګناه د هغه پر غاړه ده.
د مسلم شرحې منهاج لنډه تشريح کړې وايي:
"امام جُنَّةٌ" امام د سپر او ډال په څېر دی؛ لکه سپر چې انسان له دښمنه ساتي، همداسې عادل باچا خلک د بهرني دښمن او کورنيو ګډوډيو څخه ساتي.
"يقاتل من ورائه" د هغه تر قيادت لاندې د کفارو، ياغيانو، خوارجو او ظالمانو پر ضد جګړه کېږي.
هغه د سپېڅلي اسلام ساتنه کوي، د خلکو ترمنځ نظم ټينګوي او خلک د هغه له واکه حساب کوي.
که هغه تقوا او عدالت وکړي، نو ثواب لري؛ خو که ظلم او ناحقه امر وکړي، نو ګناه يې د هغه پر غاړه ده.
امام قرطبي رحمه الله وايي: قوله: "جُنَّة" يعنې د سپر او ډال په څېر دی.
امام قرطبي رحمه الله وايي: مطلب دا دی، چې په لويو چارو او خطرناکو پېښو کې به د هغه د رايې او نظره پيروي کېږي، پر هغه به مخکېوالی نه کېږي او له هغه پرته په مهمو کړنو کې څوک په خپل سر اقدام نه شي کولی.
وَذَلِكَ أَنَّ الْإِمَامَ إِنمَّا نُصِبَ لِدَفْعِ الْعَدُوِّ وَحِمَايَةِ الْبَيْضَةِ وَسَدِّ الْخَلَلِ وَاسْتِخْرَاجِ الْحُقُوقِ وَإِقَامَةِ الْحُدُودِ وَجِبَايَةِ الْأَمْوَالِ لِبَيْتِ الْمَالِ وَقِسْمَتِهَا عَلَى أَهْلِهَا. [تفسير قرطبي ١/ ٢٧١]
دا چې امام خاص د دښمن د دفع کولو، د هېواد ساتنې، د ستونزو مخنيوي کولو، د حقونو ترلاسه کولو، د حدودو د پلي کولو، د بيت المال لپاره د مالونو جمعه کولو او دغه مال بيا پر خپل رعيت ترمنځ د وېشلو لپاره ټاکل شوی دی.

کله چې د وخت حاکم يادې کړنې په سمه توګه ترسره کړي، هيڅ نيمګړتياوې به په اسلامي امت کې نه وي.
نن ورځ اسلامي امارت د هېواد ساتنه کې، شريعت عملي کول، حدود پلي کول، د بيت المال ساتنه کې او د خلکو حقوق خوندي کولو کې هېڅ درېغ نه دی کړی. د اسلامي امارت دنده څه ده؟ له دښمن څخه دفاع په کلکه توګه وکړي، د هېواد د سرحداتو ساتنه په جدي توګه کول،هغه تشه او ستونزې چې رامنځته کېږي ژر تر ژره به يې مخنيوی وکړي. هر چاته خپل حقوق ورکړي او دې ته هم خلک چمتو کړي چې يو بل ته حقوق ورکړي او شرعي حدود په سمه توګه ترسره کړي، تر څو د نورو لپاره عبرت وړ وګرځي. بيت‌المال بايد بډايه کړي، تر څو د نورو لاسونو ته اړ نه شي او خپل نظام په پښو ودروي. د خپل رعيت سره نرم او د شفقت چلند غوره کړي، د ناچارو لاسنيوی وشي او د اړمنو لپاره له بيت‌المال څخه اړتيا وې پوره کړي، غړ يې واوريدل شي او رعيت له حکومت څخه ځان بيګانه ونه ګڼي. تجربو ثابته کړې هيڅ يو نظام له عدالت پرته بقا نه لري، ځکه عدالت د اسلامي نظام نه بېلېدونکی جز دی. که چېرې د يو نظام واکمن د ښه نيت څښتن وي، خدای تعالی به ورته خپل رعيت تابع وګرځوي، لکه عمر فاروق رضی‌الله عنه د خلافت زمانه، چې د ټولې نړۍ لپاره ستر درس پاتې دی، چې آن ليوه به هم ميږې ته خوله نه شوه اچولی، دا ځکه چې عدالت يې په شرعي توګه عملي کړی و او حدود يې پلي کړي و، چې هيڅ مجرم به د جرم کولو جرئت نه شو کولی.
د واکمن حسن نيت ته غوره اړتيا ده، کله چې واکمن په خپل نيت کې بدلون راولي بيا دې د خپل رعيت څخه هم ګيله نه کوي؛ ځکه الله رب ذوالجلال فرمايي: إِن اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ.[سُورَةُ الرّعد : ۱۱]
ژباړه: حقيقت دا دی چې الله تعالی د هيڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.
امام ثعالبي رحمه الله وايي: واکمن پر ځمکه د الله تعالی خليفه او ځای ناستی دی، تر هغې به يې د خلافت چارې پر مخ سمې نه ځي، چې تر څو دی د الله تعالی نا فرماني کوي، ځکه واکمني پر دين ولاړه وي او دين پر باچاهۍ حمايه کېږي يا ټينګېږي [آداب الملوک ص ۵۱.]
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: {سَيَلِيكُمْ بَعْدِي وُلَاةٌ، فَيَلِيكُمْ الْبَرُّ ببرِّه، وَيَلِيكُمْ الْفَاجِرُ بِفُجُورِهِ، فَاسْمَعُوا لَهُمْ وَأَطِيعُوا فِي كُلِّ مَا وَافَقَ الْحَقَّ، فَإِنْ أَحْسَنُوا فَلَكُمْ وَلَهُمْ، وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ} ۲. [احکام السلطانيه للماوردي۱۵-۱۶]
له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل:
له زما وروسته به پر تاسو حاکمان وټاکل شي؛ نو نېک حاکم به د خپلې نيکۍ له مخې پر تاسو حکومت کوي، او بد حاکم به د خپلې بدۍ له مخې حکومت کوي؛ نو تاسو د هغوی خبره واورئ او اطاعت يې وکړئ په هر هغه څه کې چې د حق سره موافق وي، که هغوی ښه کار وکړي نو ګټه به يې تاسو او هغوی دواړو ته وي، او که بد کار وکړي نوصبر وکړئ اجر او ګټه به يې تاسو ته وي او ګناه به يې پر هغوی وي.
بايد د يو داسې حاکم واکمن لمنه ټينګه ونيول شي، چې هغه له خدايه ويرېږي او اسلامي احکام په سمه توګه پلي کوي، له يو داسې واکمن څخه بايد په جدي توګه ډډه وشي، چې هغه نه اسلام او نه هم هېواد ته وفاداره وي، بلکې خپلې ګټې او شوم اهداف ترسره کوي.
وَقَالَ أبرويز أَجْهَل النَّاس من يعْتَمد فِي أُمُوره على من لَا يأمل خَيره وَلَا يَأْمَن شَره.(دررالسلوک في سياسة الملوک ۹۲.)
ابرويز وايي: تر ټولو ډېر جاهل هغه څوک دی، چې په کړنو کې پر هغه چا باور کوي چې نه د خير ( نيکۍ) هيله ترې کېږي او نه يې له شر څخه په امن وي.

عمر فاروق رضی الله عنه یو شپون په یو داسې ځای کې ولیده، چې خپلې مېږې یې په داسې ځای کې څرولې، چې هلته اوبه کمې وې، په داسې حال کې چې یو بل ځای تر دې ډېر ښه و او هغه ځای عمرفاروق رضی الله عنه ته معلوم و؛ نو شپون ته یې وویل: هلاک شې خپله رمه دې له دې ځای څخه بل ځای ته بوزه، په یقیني توګه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي: د هر شپون څخه به د خپلې رمې پوښتنه کېږي.[آدب المفرد ص ۴۲۸. رقم ۴۱۶]

عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه وهب بن کیسان ته ولیکل:

د حاکم مثال د بازار دی هغه څه به ورته راوړل کېږي چې په بازار کې پلورل کېږي که چېرته حاکم د خلکو سره د حق معامله کوي؛ نو خلک به هم دده سره د حق معامله کوي او اهل حق به ورته راځي، که د خلکو سره د باطل معامله کوي، نو اهل باطل به ورته راځي او د باطل معامله به ورسره کوي.

[ابو نعیم حلیة الاولیاء ۱/ ۳۰۵]

دغه راز عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وایي: که چېرته په بازار کې رښتیا، نیکي، عدل او امانت پلورل کېږي نو همدا به ورته راوړل کېږي که چېرې په دې دروغ، ناوړه عمل، ظلم او خیانت خرڅ شي نو همدا به ورته راوړل کېږي یعنې حاکم چې څه ډول چلند غوره کړ، نو همغه ډول چلند به خپل رعیت ورسره کوي. [مجموع الفتاوا ج۲۸/ ۲۶۸-۲۶۹]

په اسلامي نظام کې د پیاوړتیا لپاره په مخلصانه توګه خدمت کول عبادت دی.

وَهُوَ الَّذِى جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ [سُورَةُ الأنعَام : ١٦٥]

ژباړه: هماغه ذات دی چې تاسې یې د ځمکې خلیفه ګان وګرځولای او ستاسې څخه یې ځینو ته د ځینو نورو په مقابل کې ډېرې لوړې درجې ورکړې، چې تاسې ته یې څه درکړي دي په هغه کې پر تاسې ازمېښت وکړي. بېشکه ستا رب په سزا ورکولو کې هم ډېر چټک او ډېر بښونکی او پوره رحم کوونکی هم دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

حلیم او زغمونکی په دنیا او آخرت کې سردار دی. [کنزالعمال ج۳/ ۱۲۹]

چا چې حلم او زغم غوره کړ، نو دی مشرۍ ته ورسید او چاچې پوه تر لاسه کړه هغه کې د عزت کچه لوړه شوه. [المنهج المسلوک ص ۳۳۶]

عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په کارونو دومره زیات بوخت و، چې د خپل کور د اړتیا وړ کارونو وخت به هم ورسره نه و. [الاصابة في تمیز الصحابة ج ۳/ص ۴۸۴]

عمربن عبدالعزیز رحمه الله خپل ځان د خلکو ستونزو د حل کولو لپاره اوزګار کړی و، د ورځې به د خلکو اړتیاوو پوره کولو ته کیناسته، کله به یې چې د ورځې اړتیا پوره نه شوه کړای، نو په شپه کې به یې د خلکو اړتیاوې پوره کولې.[مناقب عمر ص۱۲۱]


نن ورځ لله الحمد د یو داسې سپېڅلي نظام شاهدان یو چې پیل یې پر اسلام او قربانینو راغلی دی، دریځ او شعار یې ټولې نړۍ ته څرګند دی، چې هغه اعلاء کلمة الله او اسلامي شریعت پلي کول او مسلمانانو ته د امن فضاء غوره کول دي. دا ټول هغه څه دي، چې زموږ ستر ارمان و، نن ورځ مو ټولې هیلې پوره کیدونکې دي؛ ځکه د یو داسې رهبر تر سیوري لاندې ژوند کوو، چې ښه عالم او د کمال څښتن دی، د شفقت او مهربانۍ ستر غر دی او له شریعت څخه یو قدم هم تېریدونکی نه دی.

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تاریخچه

نورالله غازي



افغانستان، چې په وچه کې راګیر هېواد دی او سمندر ته لاره نه لري، د خپلو ټرانسپورټي اړتیاوو لپاره په ځمکني او هوایي ټرانسپورټ باندې ډېره تکیه کوي. دغه دوه سکټورونه د هېواد اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري. د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د دې مهمو چارو د تنظیم او پراختیا لپاره د تاریخ په اوږدو کې ستر رول لوبولی دی. دا وزارت هم د هېواد دننه د مسافرو او توکو د لېږد رالېږد لپاره اسانتیاوې برابروي او هم د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا او د تاریخ په اوږدو کې یې د ګرځندویۍ د ودې لپاره هم بنسټیزې هڅې کړې دي. دا لنډه تاریخچه د افغانستان د ځمکني او هوایي ټرانسپورټ د پیل او پرمختګ بېلابېل پړاوونه په لنډه توګه رانغاړي.



## د ځمکني ټرانسپورټ پیل

د افغانستان په لرغوني تاریخ کې کله چې سړکونه او موټر نه وو، د مالونو لېږد رالېږد د حیواناتو په مرسته ترسره کېده. ویل کېږي چې د ۱۱۵۲ لمریز کال په شاوخوا کې د تیمورشاه د واکمنۍ پر مهال، د قافلو د تنظیم لپاره یو کس چې "قافله باشي" یې باله، ټاکل شوی و. دا په افغانستان کې د ځمکنیو ټرانسپورټي چارو د تنظیم لومړنۍ هڅه وه. د ۱۲۸۳ لمریز کال په اوږدو کې د امیر حبیب‌الله خان د واکمنۍ پر مهال د هند د نایب‌السلطنه له خوا د ډالۍ په توګه لومړنی موټر د غوایانو په مرسته افغانستان ته راوړل شو. دا لومړنی موټر و، چې د هېواد د ټرانسپورټي نظام د پرمختګ بنسټ یې کېښود. ، د عبدالحی حبیبي (د افغانستان تاریخي پېښلیک کتاب) لومړي ټوک له قوله په ۱۲۹۲ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې "شرکت موټرکار افغانیه" په نوم لومړنی ټرانسپورټي شرکت جوړ شو، چې د موټرو د پراختیا لپاره یې لاره هواره کړه. له انګلستان څخه د خپلواکۍ له اخیستلو وروسته چې د افغانستان په بېلابېلو برخو کې پرمختګونه پیل شول، د ځمکني ټرانسپورټ او هوایي چلند لپاره هم یو مهم پیل و او په ۱۳۰۴ل کال امان‌الله خان په خپل لګښت د «موتور رانی» په نوم یو ټرانسپورټي شرکت رامنځته او له دې سره یې سړک جوړولو ته هم پاملرنه زیاته کړه. په (۱۹۵۰ ـ ۱۹۶۰) زېږدیزو کالونو پورې د هیواد لویې لارې جوړې او پخې کړای شوې چې آن تر تورغونډۍ او اسلام کلا پورې وغځول شوې، چې د ټرانسپورټي نظام د لا پیاوړتیا سبب وګرځېدې. په ۱۳۱۱ لمریز کال د مخابراتو ریاست په چوکاټ کې د عمومي ټرانسپورټ مدیریت جوړ شو. وروسته دا مدیریت د مخابراتو له چوکاټ څخه بېل او د صدارت عظمي تر چتر لاندې یې فعالیت پیل کړ، چې د ترافیکو څانګه هم د دې مدیریت برخه وه. په ۱۳۳۵ لمریز کال دا مدیریت د ټرانسپورټ ریاست ته ارتقا وکړه او د سوداګرۍ وزارت په چوکاټ کې یې کار پیل کړ. په ۱۳۵۸ لمریز کال کې دا ریاست د ټرانسپورټ وزارت ته واوښت او د یوه خپلواک وزارت په توګه یې خپل فعالیت پیل کړ.

## د هوايي چلند پیل

د افغانستان د هوايي چلند بنسټ په ۱۳۰۲ لمریز کال کې کېښودل شو او په ۱۳۰۶ لمریز کال د لینډی په میاشت کې د کابل او تاشکند ترمنځ لومړنی هوايي کرښه د ډیپلوماتیکو اړیکو د پیاوړتیا لپاره پرانېستل شوه او تر دې وروسته هم د روس او جرمني کوچنی الوتکې د ملخانو د دواپاشی او ځینې نورو ډیپلوماټیکو مسائلو لپاره افغانستان ته راتلې، د همدې الوتکو د کنټرول او د هوايي چلند اړتیاوو ته په پام په ۱۳۳۱ لمریز کال کې د ملکي هوايي چلند عمومي مدیریت رامنځته او د الوتنو د کنټرول، د ملکي هوايي ډګرونو د سمون مسوولیت یې پر غاړه واخیست. د دې مدیریت لومړنی مشر ګلبهار خان و، نوموړی د هوايي ځواک له قوماندانی یو تقاعد شوی پیلوټ و او په دې برخه کې یې پوره تجربه درلوده، د هوايي چلند مدیریت د لومړني عمومي مدیر په توګه وټاکل شو. په ۱۳۳۵ لمریز کال کې دغه مدیریت د ملکي هوايي چلند ریاست ته ارتقا وکړه چې عبدالحی عزیز او وروسته عبدالکریم حکیمي یې د رئیسانو په توګه وګمارل شول. په ۱۳۴۲ لمریز کال ښاغلی سلطان محمود غازي، (د افغانستان د دویم صدراعظم شاه محمود خان زوی) د هوايي چلند عمومي رئیس وټاکل شو. د ده د ریاست پر مهال د افغانستان په هوايي سکټور کې بنسټیز بدلونونه رامنځته شول. په ۱۳۴۶ل کال کې د ګرځندوی ریاست د هوايي چلند له اداري سره یو ځای شو، چې د بامیانو او نورو تاریخي سیمو کې د سیلانیانو لپاره اسانتیاوې برابرې شوې. ښاغلي سلطان محمود غازي غوښتل چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د ګرځندویی د ودې لپاره هوايي ډګرونه جوړ شي. د ده په دوره کې د کابل، کندهار، مزارشریف، کندوز، هرات او جلال‌اباد هوايي ډګرونه په اساسي ډول ورغول شول، چې د افغانستان هوايي چلند د سیمې په کچه د یو پرمختللي بنسټ په توګه وځلېده.

د ایکاو او د ملګرو ملتونو پراختیايي اداري(UNDP) )په مرسته په ۱۳۴۷ل کال کې یو بل هوايي شرکت د "باختر افغان الوتنه" په نوم د کورنیو الوتنو لپاره تاسیس شو. د دې شرکت موخه د لرې پرتو او سختو سیمو د خلکو ستونزو ته لاسرسی او د ګرځندویانو جلبول وو. درې کاناډايي(Twin Otter ) الوتکې، چې ۱۸ چوکۍ یې درلودې، په خامه او ۳۰۰ متره ځغاستلیکو باندې یې ناسته او الوتنه کولای شوه، وپېرل شوې.

د ۱۳۵۷ لمریز کال د غویي د اوومې نېټې له کودتا وروسته، د هوايي چلند په چارو کې د پام وړ بدلونونه رامنځته شول. نورمحمد دلیلي د ملکي هوايي چلند رئیس وټاکل شو او په ۱۳۵۸ لمریز کال د هوايي چلند ریاست د ټرانسپورټ وزارت تر چتر لاندې راغی. ښاغلی بارق شفیعي د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزیر وټاکل شو او وروسته تر ۱۳۶۴ لمریز کال پورې شېرجان مزدوریار او عبدالرحیم کاروال د ټرانسپورټ وزیرانو په توګه دندې ترسره کړې دي.

په ۱۳۶۵ لمریز کال د وري په میاشت کې د هوايي چلند ریاست د ملکي هوايي چلند وزارت ته ارتقا وکړه او عزیز نګهبان د دې وزارت وزیر وټاکل شو. په ۱۳۶۹لمریز کال د ډاکټر نجیب‌الله د یو فرمان له مخې د ملکي هوايي چلند وزارت نوم د ملکي هوايي چلند او ګرځندویی وزارت ته واوښت او د ګرځندویی ریاست، چې په دې کې د انټرکانټینټال هوټل هم شامل و، د دې وزارت تر چتر لاندې راغلل او تر ۱۳۷۵ لمریز کال پورې، بادشاه‌ګل وفادار، شېرجان مزدوریار، حمیدالله طرزي او ودیر ساپي د دې وزارت وزیرانو په توګه دندې ترسره کړې دي.



## آریانا افغان هوایي شرکت

آریانا افغان هوایي شرکت د افغانستان لومړنی او لوی دولتي هوایي شرکت دی، چې د پاچا محمد ظاهر شاه د ۱۱۹ ګڼې فرمان پر اساس په ۱۳۳۳ لمریز کال د تلې په ۲۶مه د ۳۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو په پانګونه تاسیس شو، چې ۵۱ سلنه یې د افغانستان او ۴۹ سلنه یې د انډیمار کمپنۍ وه. په همدې کال یې لومړنۍ کورنۍ الوتنه د (۳-DC) ) الوتکې په واسطه له کابل څخه مزار شریف، هرات او کندهار ته ترسره کړه. په ۱۳۳۴ لمریز کال کې یې بهرنۍ الوتنې پیل کړې، چې لومړنۍ بهرنۍ الوتنه له کابل څخه بحرین ته د کندهار له لارې تنظیم شوه. پاچا محمد ظاهر شاه د نوم غوره کولو لپاره یو شمېر پوهان او علما وټاکل، چې له "باختر، هندوکش، خراسان، سپین غر او آریانا" نومونو څخه یې "آریانا" نوم غوره او بیا یې په خپلو ګوتو د توتکۍ (پرستو) لوګو ورته رسامي کړه، چې د ډېرو د خوښۍ وړ وګرځېده. وروسته د انډیمار برخه پان امریکن هوایي شرکت باندې وپلورل شوه، چې په پایله کې یې کورنۍ او بهرنۍ الوتنې پراخې شوې او په همدې کال د حاجیانو لېږد پیل شو. په ۱۳۴۹ لمریز کال آریانا د IATA غړیتوب هم ترلاسه کړ. خو د ۱۳۵۷ لمریز کال د غویي کودتا وروسته، پان امریکن له آریانا سره همکاري ودروله او وروسته د ځینو ستونزو سره مخ شو او د وخت حکومت چې مشري یې ببرک کارمل کوله په ۱۳۶۴ لمریز کال د غبرګولې میاشتې په دویمه نېټه د وزیرانو شورا پرېکړې په اساس آریانا منحل او ټوله پانګه یې له الوتکو سره باختر افغان الوتنې ته وسپارل شوه.

په ۲۷/۱۰/۱۳۶۶ نېټه د ۲۶۸ مصوبې پر اساس د کار د موثریت او د انتقالاتو د لا بهترۍ په پار (تصدي آریانا افغان هوایي الوتنه) په نوم بدل شو او له ۱۳۶۹ل کال آریانا بیرته خپل حقوقي شخصیت ترلاسه کړ او د یو سهامي دولتي شرکت په حیث د آریانا افغان هوایي شرکت په نوم ونومول شو، نوې اساسنامه یې جوړه او منظوره شوه چې ونډه اخیستونکې یې د ملکي هوایي چلند وزارت، مالیې وزارت، افغانستان بانک، ملي بانک، پښتني تجارتي بانک او د سوداګرۍ وزارت وو.



## د اسلامي امارت لومړنۍ دوره

د ۱۳۷۵ څخه تر ۱۳۸۰ لمریز کال پورې، د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ پر مهال، شهید امیرالمؤمنین اختر محمد منصور (تقبله‌الله) د دې وزارت چارې پر مخ وړې. شهید منصور د هوایي چلند چارې په داسې وخت کې واخیستې، چې د هوایي چلند بنسټونه د کورنیو جګړو په لمبو کې له منځه تللي او کباړ شوي وو، د هوایي چلند سکتور سخته ضربه لیدلې وه؛ خو شهید منصور نه یوازې د هوایي چلند چارې منظمې کړې، بلکې د هوایي مدافعې عمومي قوماندانۍ یې هم پر غاړه درلوده. د ده د وزارت پر مهال کابل نړیوال هوایي ډګر او نور ویجاړ شوي هوایي ډګرونه، لکه کندهار، هرات، ننګرهار، مزار شریف او کندوز، بېرته فعال او الوتنو ته چمتو کړای شول. د آریانا افغان هوایي شرکت کرښې د کورنیو او نړیوالو الوتنو لپاره پرانېستل شوې او زرګونو افغانانو ته د حج د فریضې ادا کولو زمینه برابره شوه.

## د اشغال دوره:

له ۱۳۸۰ څخه تر ۱۴۰۰ لمریز کال پورې، چې د اشغال توره دوره ګڼل کېږي، د ټرانسپورټ او هوایي چلند چارې له څو ځله ادغام او بېلتون سره مخ شوې. په ۱۳۸۲–۱۳۸۳ کلونو کې د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د اصلاحاتو او مالي ستونزو له امله دواړه برخې د یو وزارت په بڼه سره یو ځای شوې، خو په ۱۳۹۳ لمریز کال کې بېرته د جلا ادارو په توګه فعالې شوې. وروسته د اشرف غني د یو فرمان له مخې په ۱۳۹۷ لمریز کال د مرغومي په دویمه نېټه د هوایي چلند اداره، د اوسپنې پټلۍ اداره، د ترافیکو ریاست او د ټولګټو وزارت د ټرانسپورټ وزارت تر چتر لاندې مدغم شول. بیا په ۱۳۹۹ لمریز کال د غویي په ۲۸مه نېټه د دې ادغام بهیر وځنډول شو او د هوایي چلند اداره د یوې خپلواکې ادارې په توګه بېرته فعاله شوه، چې تر ۱۴۰۰ لمړیز کال د زمري تر ۲۴مې نېټې پورې یې خپلې چارې پر مخ یوړې.

## د اسلامي امارت بیا واکمنیدل او اوسني پرمختګونه:

د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري له ۲۴مه نېټه، (چې د فتحې ورځې په نوم شهرت لري) د افغانستان اسلامي امارت د ټرانسپورټ او هوايي چلند چارې بېرته یو ځای کړې او دا وزارت یې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په نوم ونوماوه. محترم الحاج ملا حمیدالله اخندزاده د دې وزارت د وزیر په توګه وټاکل شو، چې د ۱۴۰۳ل کال د کب/حوت میاشتې تر پنځمې نېټې پورې یې څه باندې څلورنیم کاله په ډېره بریالۍ توګه خپلې چارې ترسره کړې او په موده کې د واټ ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخو ډېرې بنسټیزې پروژې ترسره شوې. د ۱۴۰۳ل کال د کب/حوت میاشتې په ٦مه نېټه د امیرالمؤمنین د ۲٦/۸/۱۴۴۷نېټې او ۲۰ ګڼې فرمان پر بنسټ الحاج ملا محمد فاضل مظلوم د دې وزارت د وزیر په توګه وټاکل شو.

له فتحې وروسته د ځمکني او هوايي ټرانسپورټ په برخه کې مهم پرمختګونه شوي دي. نړیوال هوايي تړونونه لاسلیک شوي، ویجاړ هوايي ډګرونه بېرته فعال او نړیوال معیار ته رسېدلي دي. اوس ۲۷ هوايي ډګرونه، چې ۵ هغه یې نړیوال دي فعال او ټولې لازمې اسانتیاوې پکې موجودې دي او د هواپېژندنې دستګاوې په ډېریو ولایتونو کې په ۲۴ ساعته ډول کار کوي. د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د زده‌کړو پروګرامونه جوړ شوي او د هوايي چلند انستیټیوټ هر کال ځوانان روزي. له افغانستان څخه ډېریو هېوادونو ته منظمې الوتنې کېږي د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې ترمینلونه جوړ شوي، د موټرو تخنیکي څارنه او GPS نصبولو کار روان دی، د ځمکني ټرانسپورټ ډېرې برخې برېښنايي شوې دي او د مهمو چارو برېښنايي کېدو ته توجه ډېره شوې ده اوس پرې په عملي ډول کار روان دی. زرګونه جریبه ځمکه د هډو او ترمینلونو لپاره ځانګړې شوې او له نورو ادارو انتقال شوې ده، په تیرپارکونو جوړولو باندې کار روان دی، برېښنايي دروازو د جوړېدو چارې پیل شوې دي او ګړندۍ هڅې روانې دي، چې هېوادوالو ته د سفر ټولې اسانتیاوې برابرې کړای شي.

د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له نورو بنسټونو لکه د ګرځندوی، ملي بس شرکت او آریانا افغان هوايي شرکت سره نږدې تړاو لري. د ګرځندوی سکتور د هېواد د نړیوالې پېژندګلوۍ او د بهرنیو مېلمنو د جذب لپاره مستقیمه تکیه پر هوايي ټرانسپورټ لري؛ څکه د سړکونو ترڅنګ هوايي ډګرونه د افغانستان د دروازې په توګه کار ورکوي. همدارنګه ملي بس شرکت د ښارونو دننه او د ښارونو تر منځ د خلکو د تګ راتګ د اسانتیا مهمه دولتي اداره ده، چې د هوايي ټرانسپورټ تر څنګ ځمکني ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کوي. اریانا افغان هوايي شرکت د افغانستان ملي هوايي سېمبول بلل کېږي، چې د نړیوالو الوتنو او ملي هویت په استازیتوب د هېواد د ټرانسپورټي سیستم د بنسټیزې برخې په توګه چارې ترسره کوي. د همدې ادارو ترمنځ ګډ کار د خلکو د تګ راتګ، سوداګرۍ او ګرځندوی د ودې لپاره حیاتي ارزښت لري او د افغانستان د اقتصادي ثبات، له ولایتونو او نړۍ سره د وصل لپاره خورا اړین ګڼل کېږي.


**ماخذونه:**

فدوی، فدا محمد و هوانورد، دوکتور احمد کبیر. سیر انکشاف هوانوردی ملکی، ۱۳٦۸هـ ش.

حبیبي، عبدالحی. د افغانستان تاریخي پېښلیک. د بهقي کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۵۳ل.

فدوي، فدامحمد. جفا با آریانا. به همکاری روزنامه آبادی، ۱۳۸۸هـ ش.

تاریخچه د آریانا افغان هوايي شرکت. آریانا افغان الوتنه مجله، ۱۴۰۱ل کال۲۹مه ګڼه.

له پخواني کپتان ښاغلي غلام مصطفی طائیر سره مرکه.

د فدا محمد فدوي له راسپارل شویو اسنادو څخه ګټه اخیستنه.

وداد، داکتر خلیل. " نګاهی به ګذشتهء ترانسپورت در افغانستان ". ویب سایت مشعل. ۲۰۱۳ز/۲۱/۴، https://tinyurl.com/bdfpupbs

"تاریخچه وزارت ترانسپورت". صفحه انترنیتی سابقه وزارت ترانسپورت. ۱۴۰۰ل، https://tinyurl.com/۳spc۸ffu


RIANA AFGHAN AIRLINES
د آریانا افغان هوائی شرکت
TIR
Romania
Serbia
Bulgaria
Greece
Istanbul
Ankara
Turkiye
Mersin
Makhachkala
Poti
Derbent
Red Bridge
Baku
Alat
Sarpi - Sarp
Gurbuluk - Bazargan
Astara - Astara
Birjand
Chaman
LINE 5
LINE 6
NLC

# کړنې او لاسته‌راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۴ل کال په څلورمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته‌راوړنې ترسره شوې دي، ځينې يې دلته لوستلی شئ!

- د سيمه‌ييزو همکاريو د پراختيا په لور گامونه
- تقويت نظم ترانسپورتی در کشور
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۴ل کال پراختيايي پروژې
- انتقال مصؤن مسافران ميان افغانستان و ايران
- د نړيوال واټ ټرانسپورټ پراختيا لپاره مهم گام
- تطبيق سيستم ردياب در وسايط ترانسپورتی
- د خوندي او معياري هوايي خدمتونو په لور گامونه
- نصب و فعال‌سازی دستگاه‌های پيشرفته هواشناسی
- د دريو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، ليدنو او...
- افغانستان ته د الوتنو زياتوالی



# د سیمه‌ییزو همکاریو

## د پراختیا په لور گامونه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند سکتور د هېواد د اقتصادي ودې، سوداگرۍ او سیمه‌ییز اتصال لپاره بنسټیز ارزښت لري. د همدې اهمیت له مخې د یاد وزارت مشرتابه هڅه کوي، چې د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو د پراخولو، د ټرانزیټي اړیکو د پیاوړتیا او د ټرانسپورټي ستونزو د حل لپاره دوامدارې ډیپلوماټیکې اړیکې وساتي. د همدې هڅو په لړ کې په وروستیو میاشتو کې یو شمېر مهم سفرونه او لیدنې ترسره شوې دي، چې موخه یې د افغانستان د ټرانسپورټي اړیکو او د گډو همکاریو پراختیا ده.

## عمان ته د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير رسمي سفر

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير الحاج ملا حميدالله اخندزاده د يوه رسمي پلاوي په مشرۍ د ۱۴۰۴ل کال د مرغومي/جدي مياشتې په نهمه نېټه عمان هېواد ته سفر ترسره کړ. د ياد سفر په ترڅ کې د عمان هېواد د ټرانسپورټ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ له وزير سعيد بن حمود المعولي سره ليدنه وشوه او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي اړيکو د پراختيا، د دوه‌اړخيزو همکاريو د پياوړتيا او د ګډو پروژو د عملي کولو په اړه خبرې اترې وشوې. د دې تر څنګ د عمان د هوايي چلند اداري له رئيس نايف بن علي العمري سره هم جلا ليدنه ترسره شوه، چې پکې د هوايي ټرافيکي خدماتو، د کارګو د لېږد راليږد، د هوايي دهلېزونو د پراختيا او د دواړو هېوادونو د مسلکي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په اړه مفصل بحثونه وشول. دواړو لورو ټينګار وکړ چې د هوايي چلند په برخه کې د همکارۍ پراختيا کولای شي د اقتصادي اړيکو په پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي.

## له ايران سره د ترانزيټي ستونزو د حل لپاره خبرې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ځمکني ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري په کابل کې د ايران د نفتو وزارت د نړيوالو اړيکو او سوداګرۍ له مرستيال سيد علي موسوي او ورسره مل پلاوي سره ليدنه وکړه.

په دې ناسته کې د افغانستان او ايران ترمنځ د ټرانزيټي اړيکو د پراختيا، د دواړو هېوادونو په پولو کې د موټرچلوونکو د ستونزو د حل او د ټرانسپورټي همکاريو د پياوړتيا په اړه بحثونه وشول. د واټ ټرانسپورټ معين ټينګار وکړ، چې افغانستان د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزيټي وسايطو د تګ راتګ زياتوالي لپاره اړينې اسانتياوې برابرې کړې دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ ټرانزيټي اړيکې د پخوا په پرتله پراخې شوې دي، ايراني پلاوي هم ډاډ ورکړ چې د افغان موټرچلوونکو د ستونزو د حل لپاره به په خپل هېواد کې لازم اقدامات ترسره کړي.

د دې تر څنګ د افغانستان د باروړونکو موټرچلوونکو لپاره د سونتوکو د برابرولو ستونزې هم مطرح شوې. د افغانستان لوري غوښتنه وکړه چې د دې ستونزې د حل لپاره همکاري وشي، څو د ټرانزيټي فعاليتونو بهير له خنډونو پرته دوام ومومي. د ايران استازي هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په پراختيا کې د ځمکني ټرانسپورټ پر اهميت ټينګار وکړ او ويې ويل چې د سونتوکو او نورو ستونزو د حل لپاره به لازم ګامونه پورته کړي. همدارنګه دواړو لورو هوکړه وکړه چې د ګډې پولې په اوږدو کې د لاريو د درېدو وخت کم کړي، د تګ راتګ اسانتياوې زياتې کړي او د ټرانزيټي بهير پر وړاندې موجود خنډونه له منځه يوسي.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مشرتابه وروستي بهرني سفرونه او ليدنې ښيي چې افغانستان هڅه کوي د سيمې له هېوادونو سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي همکاريو نوی پړاو پيل کړي. د عمان او ايران له چارواکو سره شوې خبرې اترې د دې لامل ګرځي چې د هوايي چلند، کارګو لېږد، ځمکني ترانزيټ او سوداګرۍ په برخو کې اړيکې لا پياوړې شي.

# تقویت نظم
## ترانسپورتی در کشور

تنظیم سکتور ترانسپورتی کشور، ایجاد و فراهم نمودن تسهیلات برای مسافران و رانندگان، از جمله اولویت های وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌شمار می‌رود. به همین منظور، در شماری از ولایت‌های کشور ایجاد هده‌های جدید ترانسپورتی، تنظیم توقف‌گاه‌ها، نظارت تخنیکی وسایط، ارزیابی وضعیت صحی رانندگان و تطبیق سیستم‌های پیشرفته هوشمند، از اقدام‌های مهمی است که برای تقویت نظم ترانسپورتی روی دست گرفته می‌شود.

**آغاز فعالیت یک هده ترانسپورتی در ولایت پکتیا**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت پکتیا، به‌منظور گسترش خدمات ترانسپورتی، یک هده جدید را برای وسایط مسیرهای دند پتان–گردیز، خوست و کابل در ولسوالی دند پتان این ولایت ایجاد و فعال کرده است. فعالیت این هده، به‌عنوان یک سهولت برای باشندگان محل محسوب می‌شود و می‌تواند نیازهای مسافران را در زمینه رفت‌وآمد مصؤن و منظم به‌گونه بهتر برآورده کند.

**گسترش خدمات ترانسپورتی در ولایت غزنی**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت غزنی به‌منظور بهبود و تنظیم خدمات ترانسپورتی، گام‌های مهمی را برداشته است. در ولسوالی قره‌باغ، هده جدیدی برای وسایط مسیر قره‌باغ–غزنی ایجاد و فعال شده است که فعالیت آن نقش مهمی در بهبود تنظیم امور ترانسپورتی، گسترش خدمات و فراهم‌شدن سهولت در رفت‌وآمد مصؤن برای باشندگان محل خواهد داشت.

همچنان، در منطقه بازار انگوری ولسوالی جاغوری، یک هده ترانسپورتی برای وسایط مسافربری و نیز یک شرکت ترانسپورتی افتتاح گردیده است. آغاز این خدمات، زمینه ارائه خدمات منظم، مصون و باکیفیت ترانسپورتی را برای باشندگان ولسوالی جاغوری فراهم می‌کند.

**ایجاد هده ترانسپورتی جدید در ولایت پکتیکا**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت پکتیکا به‌منظور نظم خدمات ترانسپورتی، هده‌ای را برای وسایط مسیرهای اورگون–شرنه و غزنی در ولسوالی اورگون فعال کرده است.

فعالیت این هده نقش مؤثری در بهبود تنظیم امور ترانسپورتی، گسترش خدمات و فراهم‌سازی زمینه رفت وآمد آسان و مصون برای باشندگان محل خواهد داشت.

**انتقال هده وسایط خورد ظرف ولایات شمال در کابل**

به‌منظور کاهش ازدحام شهری و بهبود خدمات ترانسپورتی، هده وسایط خورد ظرف ولایات شمال از مربوطات ناحیه دوازدهم (سرک کاریز) به ساحه سرک کوچکین ولسوالی شکردره انتقال داده شد.

از این هده، روزانه حدود ۸۰۰ عراده موتر به هفت ولایت شمال و شمال شرق کشور رفت‌وآمد دارند. فعال شدن این هده ترانسپورتی جدید، نقش مهمی در بهبود تنظیم امور ترانسپورتی، گسترش خدمات و فراهم سازی زمینه رفت‌وآمد آسان و مصون برای مسافران و رانندگان ایفا خواهد کرد.

**بررسی تخنیکی هزاران وسایط ترانسپورتی در شهر کابل**

ریاست تنظیم خدمات عامه ترانسپورت شهری به‌منظور معیاری‌سازی وسایط و توزیع اسناد ترانسپورتی، در سال ۱۴۰۴ خورشیدی، ۱۵ هزار و ۲۸ عراده واسطه ترانسپورتی را در سطح شهر کابل مورد بررسی تخنیکی قرار داده است.

از میان این وسایط، ۷٬۸۵۰ عراده تاکسی، ۴۹۱ عراده بس و ٦٬٦٨٧ عراده موتر باربری شامل بوده که در بخش های مختلف شهر کابل ارزیابی تخنیکی شده‌اند.

**ایجاد توقف‌گاه جدید برای مسیر شکردره**

ریاست عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل به‌هدف فراهم‌شدن سهولت‌های بیشتر ترانسپورتی و تأمین نظم شهری، توقف‌گاه مسیر ولسوالی شکردره این ولایت را ایجاد کرده است.

با آغاز فعالیت این توقف‌گاه، مسافران مسیر ولسوالی شکردره می‌توانند با سهولت و نظم بهتر به مقاصد شان رفت‌وآمد کنند، همچنان فعالیت‌های ترانسپورتی در این توقف‌گاه منسجم شده و از بی‌نظمی‌ها جلوگیری می‌شود.

**توزیع کارت صحی برای رانندگان**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت فاریاب، به‌منظور جلوگیری از حوادث ناگوار ترافیکی و تامین مصونیت مسافران، با همکاری ادارات محلی این ولایت، برای ۵۲۳ تن از رانندگان وسایط مسافربری و باربری در شهر میمنه کارت صحی توزیع کرده است.

روند معاینات رانندگان و توزیع کارت صحی برای آنان به‌گونه دوامدار ادامه خواهد داشت تا سلامت رانندگان تضمین و سطح مصؤنیت در سیستم ترانسپورت جاده‌ای این ولایت ارتقا یابد.

**اعمار مرکز خدمات واحدهای کاری در کابل**

وزارت ترانسپورت و هوانوردی پروژه اعمار مرکز واحدهای کاری "One stop shop" را به ارزش ۷ میلیون و ۹۵۰ هزار افغانی در محوطه ریاست عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل آغاز کرده است که کارهای آن تاکنون ده درصد پیشرفت داشته و به سرعت جریان دارد.

این مرکز واحدهای کاری به هدف انسجام فعالیت‌ها، طی مراحل سریع کارهای مراجعین و ارائه خدمات بهتر و مؤثر ایجاد شده که تا چند ماه دیگر تکمیل خواهد شد.

**تطبیق سیستم الکترونیکی روند نوبت در ننگرهار**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار، تطبیق عملی سیستم الکترونیکی نوبت‌دهی (روندنوبت) برای وسایط باربری را آغاز کرده است. این سیستم به‌عنوان یک گام مهم در راستای تأمین شفافیت در امور ترانسپورتی و ارتقای کیفیت خدمات شناخته می‌شود.

در ولایت ننگرهار حدود هفت هزار عراده موتر باربری و در سطح کشور تا کنون بیش از ٦٠ هزار عراده موتر باربری در چارچوب این سیستم الکترونیکی ثبت شده‌اند.

در سطح کشور، فعال‌سازی هده‌های ترانسپورتی، تنظیم توقف‌گاه‌ها، معاینات تخنیکی وسایط، ارزیابی وضعیت صحی رانندگان و تطبیق سیستم‌های الکترونیکی از جمله اقدامات مهمی است که از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای تقویت نظم ترانسپورتی انجام می‌شود.

با تداوم این اقدامات، خدمات ترانسپورتی در سطح کشور بیش از پیش منظم، مصؤن و معیاری شده و زمینه رفت‌وآمد آسان و با سهولت برای شهروندان فراهم خواهد شد.



## د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

# د ١٤٠٤ام کال پراختيايي پروژې

د هر هېواد اقتصادي وده، د خلکو ترمنځ د تګ راتګ اسانتيا او د سوداګرۍ پراختيا تر ډېره د معياري ټرانسپورټي زيربناوو پورې تړلې ده. افغانستان چې د سيمې د مهمو لارو په منځ کې موقعيت لري، د ټرانسپورټي تاسيساتو پراختيا ورته ځانګړې ارزښت لري. همدې اړتيا ته په کتو د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ۱۴۰۳ لمريز کال کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د مهمو زيربنايي پروژو پلي کول پيل کړل، چې موخه يې د ټرانسپورټي خدمتونو معياري کول او د خلکو لپاره د لا زياتو اسانتياوو برابرول دي.

د ميلياردونو افغانيو په ارزښت د لسګونو پروژو پيل

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په روان کال کې د ۳ ميليارده افغانيو څخه په زياته ارزښت د ۴۶ لويو پراختيايي پروژو چارې پيل کړې دي. په دغو پروژو کې د باروړونکو او مسافرو ترمينلونه، تيرپارکونه، اداري ودانۍ او نور ټرانسپورټي تاسيسات شامل دي، چې د هېواد د ټرانسپورټي سيستم د پياوړتيا لپاره بنسټيز اهميت لري.

همدارنګه د ياد وزارت له لوري په همدې کال کې د ۲۹۴ ميليونه ۸۲۸ زره افغانيو په ارزښت ۲۵ بېلابېلې زيربنايي پروژې بشپړې او ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي. په دغو بشپړو شويو پروژو کې د اداري ودانيو جوړول او بيا رغول، د هوايي ډګر د ځغاستليکو ترميم، تيرپارکونه، باروړونکي او مسافرو ترمينلونه، د هوايي ډګر د رمپ ساحې او نور ټرانسپورټي تاسيسات شامل دي. يادې پروژې د کابل، کندهار، باميان، ميدان وردګ، سمنګان، کندوز، خوست او ننګرهار په ولايتونو کې پلي شوې دي، چې له بشپړېدو سره يې د ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخو کې مهمې اسانتياوې رامنځته شوې دي.

د يادولو وړ ده چې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په تېرو څلورو کلنو کې شاوخوا د ۱۷۰ پروژو چارې پيل کړې دي چې زيات شمېر يې دا مهال د پلي کېدو په حال کې دي. ياد وزارت په راتلونکو کلونو کې هم د لا پراخه پرمختګونو او نوښتونو په لټه کې د معياري خدماتو وړاندې کولو ته ژمن دی.

## د کابل په کچه لس مهمې پراختیايي پروژې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دا مهال یوازې په کابل ولایت کې د څه باندې ۲ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۰ پراختیايي پروژې پلي کوي. د دغو پروژو چارې د ټاکل شوي پلان له مخې په منظم ډول روانې دي. یادې پروژې د ځمکني ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخو کې د خلکو لپاره د اسانتیاوو د پراختیا په موخه پلي کېږي، چې له بشپړېدو وروسته به د ټرانسپورټي خدمتونو کیفیت ورسره لوړ، د خلکو د تګ راتګ ستونزې به راکمې شي او په ټوله کې به د عامه خدمتونو په کچه کې د پام وړ ښه والی راشي.

## په غزني کې د لوی تیرپارک د جوړولو پروژه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د غزني ولایت مرکز اړوند تلخکزار سیمه کې د ۲۰۰ جریبه ځمکې پر سر د تیرپارک د جوړولو پروژه هم پیل شوې ده. د دې پروژې ارزښت له ۳۴ میلیونه افغانیو څخه زیات دی.

په دغه پروژه کې د تیرپارک چاپېریدونکی دېوال، اداري ودانۍ، د اوبو رسولو شبکه او نور اړین تاسیسات شامل دي. ټاکل شوې ده چې د دې پروژې چارې به د ۱۲ میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د دغه تیرپارک جوړېدل به د باروړونکو وسایطو د تنظیم، د ټرانسپورټي نظم د رامنځته کېدو او د سوداګریزو فعالیتونو د اسانتیا لپاره مهم رول ولوبوي.

## په لغمان او تخار کې د اداري ودانیو جوړول

د ټرانسپورټي چارو د لا ښه تنظیم په موخه، د لغمان ولایت د واټ ترانسپورټ تنظیم ریاست لپاره د یوې نوې اداري ودانۍ د جوړولو چارې هم پیل شوې دي. دا پروژه د ۹ میلیونه او ۳۹۰ زره افغانیو په لګښت پلې کېږي. یاده ودانۍ په دوو پوړونو کې جوړېږي چې ۱۸ خونې او نورې اړینې اداري اسانتیاوې به ولري او چارې به یې د دوو کالو په موده کې بشپړې شي.

همدارنګه په تخار ولایت کې هم د واټ ترانسپورټ تنظیم ریاست لپاره د اداري ودانۍ د جوړولو کار د څه باندې ۱۱ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوی دی. دا ودانۍ به هم په دوو پوړونو کې جوړه شي او د ۱۰ میاشتو په موده کې به بشپړه شي. د دغو ودانیو جوړېدل به د اداري چارو د ښه تنظیم او د مراجعینو لپاره د لا زیاتو اسانتیاوو د برابرولو لامل شي.

## د هوايي چلند په برخه کې مهمې پروژې

د هوايي چلند په برخه کې هم یو شمېر مهمې پروژې پیل شوې دي، چې د هېواد د هوايي زیربناوو د پیاوړتیا لپاره ارزښت لري. له دغو پروژو څخه یوه یې د غور ولایت د سلطان غیاث‌الدین غوري هوايي ډګر د ځغاستلیکې د بیارغونې پروژه ده، چې د ۸۶ میلیونه افغانیو په ارزښت پلي کېږي. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د یاد هوايي ډګر ځغاستلیکه په معیاري ډول جوړه او د بېلابېلو الوتکو د ناستې او الوتنې لپاره به مناسب شرایط برابر شي.

همدارنګه د بادغیس ولایت د قلعه‌نو هوايي ډګر د چاپېردونکی دېوال (فینس) د جوړولو پروژه هم پیل شوې ده. د دې پروژې ارزښت نږدې یو میلیون افغانۍ دی او د دې احاطوي دېوال اوږدوالی ۳۶۰ متره دی. ټاکل شوې ده چې د دې پروژې چارې به د یوې میاشتې په موده کې بشپړې شي.

په ټوله کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د لسګونو پراختیايي پروژو پیل او بشپړېدل د ټرانسپورټي او هوايي زیربناوو د پیاوړتیا په لور مهم ګام بلل کېږي. دغه پروژې د خلکو د تګ راتګ اسانتیاوې زیاتوي او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا، د سوداګرۍ د ودې او د هېواد د ترانزیټي موقعیت د پیاوړتیا لپاره هم مهمه زمینه برابروي.



# انتقال مصؤن مسافران میان
## افغانستان و ایران

افغانستان از طریق گسترش روابط ترانسپورتی با کشورهای منطقه تلاش می‌کند تا سهولت‌های تردد شهروندان را افزایش داده و زمینه توسعه روابط تجارتی و اجتماعی را فراهم کند. در همین راستا، وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای انتقال مصؤن و منظم مسافران از ولایت‌های غربی کشور، به‌ویژه هرات و نیمروز، به ایران، یک سلسله تسهیلات را فراهم کرده است.

**خدمات ترانسپورتی منظم در مسیر هرات – مشهد**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت هرات به‌هدف فراهم شدن سهولت‌های بیشتر برای مسافران در مسیر هرات الی مشهد کشور ایران، به‌طور منظم خدمات ترانسپورتی ارائه می‌کند. در حال حاضر، در این مسیر بیش از ۴۰۰ عراده تکسی و بس معیاری فعالیت دارند که علاوه بر تسهیل رفت‌وآمد مسافران سبب تقویت روابط ترانسپورتی میان افغانستان و ایران نیز شده است. فعالیت این وسایط معیاری نه‌تنها سهولت رفت‌وآمد مسافران را افزایش داده، بلکه نقش مهمی در تقویت روابط ترانسپورتی میان افغانستان و ایران ایفا می‌کند.

**فعالیت شرکت‌های ترانسپورتی بین‌المللی در مسیر زرنج – زاهدان**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت نیمروز از طریق بندر پُل‌ابریشم به‌طور منظم برای مسافران افغان از شهر زرنج الی شهر زاهدان کشور ایران به‌صورت دو طرفه خدمات ترانسپورتی ارائه می‌کند. در حال حاضر، در این مسیر شش شرکت بین‌المللی تکسی‌رانی با ۳۵۰ عراده واسطه ترانسپورتی فعالیت دارند. این خدمات، رفت‌وآمد مسافران میان افغانستان و ایران را راحت نموده و امکان سفر مصؤن و منظم به مقاصد را فراهم می‌کند.

**نشست مشترک برای توسعه روابط ترانسپورتی**

ملا محمد اقبال کلیم‌الله، رئیس تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت نیمروز با شماری از مقام‌های ایرانی در ساحه پُل ابریشم نشست مشترک برگزار کرد. در این نشست، درباره توسعه روابط ترانسپورتی و ترانزیتی میان افغانستان و ایران، حمل و نقل مصؤن مسافران و کالاهای تجاری و تنظیم بهتر فعالیت وسایط ترانسپورتی دو کشور مورد بحث قرار گرفت. دو طرف تأکید کردند که فراهم‌سازی تسهیلات و گسترش همکاری‌های ترانسپورتی، ارزش اقتصادی و اجتماعی مهمی برای هر دو کشور به ارمغان می‌آورد و باید به آن توجه شود.
فعالیت وسایط معیاری، توسعه شرکت‌های ترانسپورتی و تلاش‌های مشترک مقامات دو کشور زمینه را برای رفت‌وآمد آسان، مصؤن و منظم مردم فراهم می‌سازد.



## د نړیوال واټ ټرانسپورټ

# پراختیا لپاره مهم ګام

افغانستان د سیمې د مهمو ټرانزیټي لارو په په زړه کې موقعیت لري او د نړیوالو ټرانسپورټي سیستمونو پلي کول کولای شي، د هېواد د سوداګرۍ او ټرانزیټي فعالیتونو د پراختیا لپاره مهم فرصتونه رامنځته کړي. په همدې موخه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د اړوندو ادارو په همکارۍ د نړیوال ټرانسپورټي سیستم (TIR) د پلي کولو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي.

په دې لړ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، د مالیې وزارت او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګې اچونې خونې استازو د ځمکني لېږد رالېږد نړیوال سازمان (IRU) له استازو سره یوه انلاین ناسته ترسره کړه. په دغه ناسته کې په افغانستان کې د TIR نړیوال سیستم د پلي کېدو پر تخنیکي اړخونو مفصل بحث وشو او پرېکړه وشوه، چې د دې سیستم د عملي کولو لپاره به دوه اړخیز تخنیکي ټیم وټاکل شي، تر څو اړوندې چارې په همغږۍ او منظم ډول پر مخ یوسي.

همدارنګه د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او د سوداګرۍ خونې له استازو سره بله ناسته هم ترسره شوه. په دې ناسته کې د نړیوال واټ ټرانسپورټ په برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو او د سیمه‌ییزو ټرانزیټي مسیرونو فعالولو په اړه بحثونه وشول.

د غونډې ګډونوالو په ځانګړي ډول د لاجوردو دهلیز او د مرکزي اسیا د ټرانزیټي مسیرونو له لارې د سوداګریزو مالونو د لېږد رالېږد پر زیاتوالي خبرې وشوې. په دې بحثونو کې د دغو مسیرونو د فعالیت، اقتصادي ارزښت، د ټرانسپورټي اسانتیاوو او د هغوی د اغېزمنې استفادې پر لارو چارو هم تمرکز وشو.

د TIR نړیوال سیستم پلي کېدل کولای شي د افغانستان د ټرانزیټي ظرفیتونو په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي، ځکه دا سیستم د پولې له اوږدو تشریفاتو پرته د سوداګریزو مالونو د چټک او خوندي لېږد رالېږد زمینه برابروي. تمه ده چې د دې سیستم په عملي کېدو سره به د افغانستان له لارې نړیوال ترانزیټ زیات شي او د هېواد سوداګریز او اقتصادي اړیکې به لا پراخې شي.




معیاری‌سازی خدمات ترانسپورتی، تأمین مصؤنیت مسافران و کالاهای تجارتی، از اهداف مهمی است که وزارت ترانسپورت و هوانوردی در راستای تحقق آن تلاش می‌کند.
به‌همین‌منظور، تطبیق سیستم ردیاب یا نظارت بر فعالیت وسایط به‌عنوان یک گام مهم در عصری سازی سکتور ترانسپورتی و افزایش شفافیت خدمات محسوب می‌شود.

**مجهز شدن هزاران واسطه ترانسپورتی با دستگاه ردیاب**

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌منظور معیاری‌سازی وسایط ترانسپورتی و تأمین مصؤنیت مسافران و کالاهای تجارتی، تاکنون در سراسر کشور حدود ۲۰ هزار واسطه ترانسپورتی را با دستگاه‌های ردیاب مجهز کرده است.
در حال حاضر، روند نصب این دستگاه‌ها در مرکز و ولایات در وسایط مسافربری و باربری ادامه دارد تا به‌طور منظم از سرعت این وسایط نیز نظارت صورت گیرد.

**گسترش همکاری با شرکت‌های خصوصی**

ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت وزارت ترانسپورت و هوانوردی، به‌منظور توسعه و تسریع روند نصب دستگاه‌های، همکاری خود را با شماری از شرکت‌های خصوصی گسترش داده است.
این ریاست به تازگی با چند شرکت خصوصی تفاهمنامه‌ای را امضا کرده است که بر اساس آن روند نصب این دستگاه‌ها در وسایط ترانسپورتی سرعت می‌یابد.
در حال حاضر، ۱۹ شرکت خصوصی در کشور در زمینه نصب دستگاه‌های ردیاب در وسایط ترانسپورتی فعالیت می‌کنند. در همین حال، تاکنون نزدیک به ۴۰ هزار واسطه مسافربری و باربری در مرکز و ولایات با دستگاه‌های ردیاب مجهز شده‌اند. قابل ذکر است که گسترش فعالیت این شرکت‌ها سبب خواهد شد که روند ردیابی، نظارت و کنترول سرعت وسایط موثریت بیشتر داشته باشد.

**نشست مشترک با شرکت‌های ترانسپورتی و شرکت‌های خدماتی ردیاب**

ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت به‌هدف بهبود فعالیت‌های ترانسپورتی، با نمایندگان شرکت‌های خدماتی ردیاب و شرکت‌های ترانسپورتی مسافربری نشست مشترک برگزار کرد.

در این نشست تاکید شد که شرکت‌های ترانسپورتی مکلف اند دستگاه‌های ردیاب را در وسایط شان نصب و در جریان سفر فعال نگهدارند و شرکت‌های خدماتی ردیاب نیز از نصب این دستگاه‌ها در وسایط ترانسپورتی ارقام دقیق جمع‌آوری نمایند و در صورت نیاز با مراجع مربوطه در میان بگذارند.

**بررسی تخنیکی وسایط ترانسپورتی**

ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت و واحدهای دومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای در ولایات، به هدف معیاری‌سازی واسطه‌های ترانسپورتی، در جریان یک هفته گذشته به تعداد ۹۷۳ عراده واسطه را در کابل و به‌تعداد ۱۱۶۹ عراده واسطه دیگر را در ولایات بررسی تخنیکی کرده‌اند.

بررسی تخنیکی وسایط مسافربری و باربری با دقت کامل انجام می‌شود تا مسافران بتوانند به‌گونه مصؤن به مقاصد شان سفر کنند.

تطبیق روند نصب دستگاه‌های ردیاب به‌عنوان یک گام مهم در عصری‌سازی سکتور ترانسپورتی، نظارت دقیق بر کنترول سرعت وسایط و تأمین مصؤنیت مسافران محسوب می‌شود. تجهیز هزاران وسیله نقلیه، مشارکت شرکت‌های خصوصی و روند نظارت دوامدار نشان می‌دهد که وزارت ترانسپورت و هوانوردی تلاش دارد خدمات ترانسپورتی در سطح کشور را معیاری کند.

## په ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت کې
# نوې ټاکنې او اداري بدلونونه

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير پېژندغونډه ترسره شوه.**

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله د ۲۶/۸/۱۴۴۷ نېټې او ۲۰ گڼې حکم له مخې الحاج ملا محمد فاضل مظلوم د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د وزير په توگه وټاکل شو او په ۱۴۰۴ل کال د سلواغې مياشتې په دېرشمه نېټه د يوې شانداره غونډې په ترڅ کې، چې د اسلامي امارت يو شمېر لوړپوړو چارواکو پکې گډون درلود، د ياد وزارت کارکوونکو ته وروپېژندل شو.

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت يو شمېر نوي رئيسان معرفي شول.**

د رياست الوزرا عالي مقام د حکم پر اساس د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مقام دفتر رياست ته مولوي عبيدالله آغا سبحاني، د کارکوونکو چارو رياست ته ښاغلی محمد اعظم فدا او د هوايي ټرافيک خدمتونو تنظيم رياست ته مولوي محمد موسی غزنوي د رئيسان په توگه وټاکل شول.

ياد رئيس صاحبان د ۱۴۰۴ل کال د کب/حوت مياشتې په ۱۴مه نېټه د يوې غونډې په ترڅ کې، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق‌الله عابد، د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبداسلام حيدري او يو شمېر رئيسانو پکې گډون درلود د وزارت کارکوونکو ته په رسمي ډول وپېژندل شول.



# د خوندي او معياري

## هوايي خدمتونو په لور گامونه

هوايي چلند د هېواد د اقتصادي پرمختګ، نړیوال اتصال او د خلکو د اسانه تګ راتګ لپاره مهم سکتور بلل کېږي. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي، چې د هوايي ډګرونو د اسانتياوو پراختيا، د الوتنو خونديتوب لوړول او له نورو هېوادونو سره د هوايي اړيکو پياوړتيا له لارې د افغانستان د هوايي چلند سکتور لا معياري او پرمختللی کړي. په همدې لړ کې په وروستيو کې يو شمېر اړين اقدامات ترسره شوي دي.

### د کابل – مسقط ترمنځ د مستقيمو الوتنو د پيل توافق

د افغانستان او عمان ترمنځ د هوايي همکاريو د پراختيا په موخه د دواړو هېوادونو د چارواکو ترمنځ هر اړخيز بحثونه ترسره شول، چې په پايله کې يې د کابل او مسقط ترمنځ د مستقيمو الوتنو د پيل په اړه توافق رامنځته شو. دا پرېکړه د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوايي اړيکو د پراختيا په لور يو مهم ګام بلل کېږي. همدارنګه د عمان د ټرانسپورټ وزير ډاډ ورکړ، چې د هوايي چلند ترڅنګ به د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې هم د همکاريو پراختيا ته پاملرنه وکړي، څو د دواړو هېوادونو ترمنځ ټرانسپورټي اړيکې لا پياوړې شي.

### د زرنج هوايي ډګر د مخابراتي سيستم پياوړتيا

د الوتنو د خونديتوب او د هوايي خدمتونو د معياري کولو په موخه د نيمروز ولايت زرنج هوايي ډګر کې نوې مخابراتي دستګاوې فعاله شوې دي. دغه مخابراتي سيستم به د الوتنو پر مهال د پيلوټانو او د کنټرول برج ترمنځ مستقيمه اړيکه برابره کړي، چې له امله به يې د الوتنو خونديتوب او د هوايي خدماتو کيفيت نور هم لوړ شي. دا اقدام د هېواد د هوايي ټرانسپورټي سيستم د پياوړتيا او د ياد هوايي ډګر د معياري کېدو په برخه کې مهم ګام بلل کېږي.

### د کورنیو او نړیوالو الوتنو عادي جریان

دا مهال د هېواد له نړیوالو او محلي هوايي ډګرونو څخه کورنۍ او نړیوالې الوتنې په عادي ډول ترسره کېږي. د افغانستان له نړیوالو هوايي ډګرونو څخه د ټاکل شوي مهالوېش له مخې الوتنې پر وخت ترسره کېږي او په محلي هوايي ډګرونو کې هم د ټاکل شوي پروګرام له مخې پروازونه دوام لري. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي چې د هوايي ډګرونو په کچه د مسافرو او سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لپاره لا نورې اسانتیاوې رامنځته کړي.

### د کابل نړیوال هوايي ډګر کې د برېښنايي سیستم پروژه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د کابل نړیوال هوايي ډګر په یو شمېر تاسیساتو کې د ښار برېښنا د غځولو پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د دې پروژې ارزښت شاوخوا ٦ میلیونه افغانۍ دی او درې میاشتې وړاندې یې چارې پیل شوې وې. په دې پروژه کې د ١٦٠٠ کیلو واټ امپیر ظرفیت لرونکي ټرانسفارمر نصب، ٩٦٠ متره د برېښنا مزي غځول او د شپږ کیلو واټ ښاري برېښنا د اوروژنې سټېشن او اړوندو تاسیساتو سره نښلول شامل دي.

### د الوتنو خوندیتوب په برخه کې مسلکي روزنه

د هېواد د پنځو نړیوالو هوايي ډګرونو د الوتنو خوندیتوب برخې کارکوونکو ته د مسلکي وړتیاوو د لوړولو په موخه درېنیم میاشتنی ښوونیز سمینار هم وړاندې شو. دا سمینار د هوايي چلند د ملي مقرراتو او د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان/ایکاو له معیارونو سره سم برابر شوی و. په دې روزنیز پروګرام کې ٢٢ تنه کارکوونکو ګډون کړی و او د بهرنیو مسلکي روزونکو له لوري ورته د الوتنو خوندیتوب اړوند تخصصي روزنه ورکړل شوه.

په ټوله کې د هوايي اړیکو پراختیا، د هوايي ډګرونو د تخنیکي سیستمونو پیاوړتیا او د مسلکي کارکوونکو روزنه هغه مهم اقدامات دي چې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یې د هېواد د هوايي چلند سکتور د پیاوړتیا لپاره ترسره کوي

# د ١٠٨ کسانو فراغت

## غونډه ترسره شوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند ملکي هوايي چلند انسټیټیوټ څخه د ١٠٨ فارغانو فراغت غونډه ترسره او تصدیقپاڼې ورکړل شوې. دا غونډه چې د ١٤٠٣ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ١٥مه نېټه په انسټیټیوټ کې جوړه شوې وه، د یاد وزارت مسئولینو او یو شمېر امارتي چارواکو پکې ګډون درلود. یاد فارغان چې د انسټیټیوټ له بېلابېلو څانګو څخه د دوو کلنو زده کړو تر بشپړولو وروسته فارغ شوې وو، د ګډون والو له خوا یې هڅې وستایل شوې او دا بریا د هېواد د ځانبسانئ پر لور مهم ګام وبلل شوه. دا مهال د هوايي چلند په انسټیټیوټ کې د هوايي ټرافیک کنټرول، هوايي چلند ټکنالوژۍ، هوايي چلند مدیریت، طفایې او ځمکني ټرانسپورټ په برخو کې د هېواد د بېلابېلو سیمو ځوانان په زده‌کړو بوخت دي، چې تر فراغت وروسته په خپلو اړوندو مسلکي برخو کې پر دندو ګمارل کېږي.



# نصب و فعال‌سازی دستگاه‌های
# پیشرفته‌ی هواشناسی

در سال‌های اخیر، توجه به توسعه زیرساخت‌های هواشناسی در افغانستان به‌عنوان یکی از عوامل مهم تأمین مصؤنیت پروازها و بهبود پیش‌بینی وضعیت آب‌وهوا، اهمیت خاصی یافته است. در همین راستا، ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی به هدف جمع‌آوری اطلاعات دقیق اوضاع جوی و تقویت سیستم‌های پیش‌بینی آب‌وهوا، در شماری از ولایات دستگاه‌های پیشرفته و خودکار هواشناسی را نصب و فعال کرده است. در این راستا ، به‌تازگی یک پایه دستگاه پیشرفته و خودکار هواشناسی در میدان هوایی بین‌المللی احمدشاه بابا ولایت کندهار نصب و فعال شده است. این دستگاه قادر است اطلاعات دقیق مربوط به وضعیت جوی از جمله میزان بارندگی، درجه حرارت، رطوبت هوا، سرعت و سمت باد و همچنان فشار هوا را به‌صورت خودکار ثبت و تحلیل کند. این معلومات نقش مهمی در پیش‌بینی دقیق وضعیت آب وهوا و افزایش مصؤنیت پروازها در این میدان هوایی ایفا می‌کند. همچنین، به‌منظور تقویت سیستم‌های هواشناسی در جنوب کشور، یک پایه استیشن پیشرفته و خودکار هواشناسی در میدان هوایی لشکرگاه ولایت هلمند نیز نصب و فعال شده است. این استیشن با ثبت و تحلیل خودکار معلومات جوی، امکان دسترسی به داده‌های دقیق و به‌موقع را فراهم می‌کند.

همچنان، ریاست هواشناسی یک پایه استیشن پیشرفته هواشناسی دیگر را نیز در میدان هوایی زرنج ولایت نیمروز نصب کرد. این دستگاه با ثبت و تحلیل پارامترهای مهم جوی مانند بارندگی، درجه حرارت، رطوبت، سرعت و جهت باد و فشار هوا، زمینه پیش‌بینی دقیق‌تر وضعیت آب‌وهوا را فراهم می‌کند و نقش مهمی در تأمین مصؤنیت پروازها و ارائه خدمات بهتر هوانوردی دارد. ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی در جریان سال ۱۴۰۴ خورشیدی به تعداد ۳۰ پایه استیشن و دستگاه پیشرفته هواشناسی را در نقاط مختلف کشور از جمله میدان‌های هوایی کشور نصب و فعال کرده است.

این اقدام بخشی از برنامه‌های این ریاست برای تقویت شبکه ملی هواشناسی و بهبود دسترسی به اطلاعات دقیق جوی در سراسر کشور به‌شمار می‌رود. توسعه و تقویت استیشن‌های پیشرفته هواشناسی، نه‌تنها در افزایش مصؤنیت پروازها نقش اساسی دارد، بلکه در مدیریت بهتر شرایط جوی، برنامه‌ریزی‌های هوانوردی و ارائه خدمات دقیق هواشناسی نیز اهمیت فراوانی دارد. با ادامه این روند و نصب دستگاه‌های بیشتر در ولایات مختلف، افغانستان می‌تواند گام‌های مؤثرتری در جهت بهبود سیستم پیش‌بینی آب‌وهوا و ارتقای معیارهای هوانوردی بردارد.



# افغانستان ته
# د الوتنو زياتوالی

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د پرلپسې هڅو پايله کې ۱۴۰۴ لمريز کال د هېواد هوايي ډګرونه د نړيوالو او کورنيو الوتنو لپاره په منظم ډول فعال او له ځنډ و خنډ پرته ترې الوتنې ترسره کيدې.

**افغانستان ته د لسو نړيوالو هوايي شرکتونو الوتنې**

اوس مهال ۱۰ نړيوال هوايي شرکتونه د افغانستان نړيوالو هوايي ډګرونو ته منظمې الوتنې ترسره کوي. دا شرکتونه عبارت دي له: ترکيش، العربيه، فلای دوبی، معراج، ايران‌اير، ايران تور اير، کيش اير، ماهان، آرش او اتحاد هوايي شرکت چې د کال په اخره ورځ يعنې د ۱۴۰۴ ل کال د کب مياشتې په ۲۹مه نېټه يې لومړي الوتنه کابل نړيوال هوايي ډګر ته ترسره کړه، چې په اونۍ کې به څلور الوتنې ولري.
دا بهير د مسافرو د تګ راتګ اسانتيا برابروي او د دې تر څنګ د سوداګرۍ، پانګونې او نړيوالو اړيکو د پراختيا لپاره هم نوې دروازې پرانيزي. د نړيوالو شرکتونو تر څنګ دوه کورني هوايي شرکتونه آريانا افغان او کام اير هوايي شرکتونه هم د هېواد په دننه او بهر کې فعال حضور لري، چې نړيوالو مسيرونو ته هم خدمات وړاندې کوي او د افغانستان د هوايي سکتور د بنسټيز ځواک په توګه ګڼل کېږي.

**د هوايي ډګرونو فعال ساتل**

په ټول هېواد کې دا مهال ۵ نړيوال او ۲۲ محلي هوايي ډګرونه فعال دي، چې د مسافرو او سوداګريزو توکو د لېږد رالېږد لپاره منظم خدمات وړاندې کوي. دا هوايي ډګرونه د هېواد د بېلابېلو سيمو ترمنځ د اړيکو د ټينګښت تر څنګ، نړيوالو بازارونو ته د افغانستان د نښلېدو مهم فرصتونه رامنځته کوي. د دغو تاسيساتو فعال پاتې کېدل د اقتصادي حرکت، سوداګرۍ او د مسافرو تګ راتګ لپاره حياتي اهميت لري.

**د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته مستقيمې الوتنې**

اوس مهال افغانستان له ګڼو مهمو هېوادونو سره مستقيمې هوايي اړيکې لري، چې په دې کې روسيه، ترکيه، هندوستان، قطر، ايران، متحده عربي امارات، چين، ازبکستان، پاکستان، کوېټ او سعودي عربستان شامل دي. دا الوتنې افغانستان ته دا فرصت برابروي، چې د سيمې په کچه د ټرانزيټي او هوايي مرکز په توګه خپل رول لا پياوړی کړي.





مرغومی/جدي میاشت



سلواغه/ دلوه میاشت



کب/حوت میاشت

# د درېيو میاشتو په موده کې

## د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه.

## د مرغومی/جدي میاشت:

- کار اعمار یک تیرپارک با سهولت‌های ترانسپورتی در ولسوالی دولت‌آباد ولایت فاریاب به هزینه ۱۳ میلیون و ۳٦٦ هزار افغانی جریان دارد که تاکنون ۱۰ درصد پیشرفت داشته و تا هشت ماه آینده تکمیل می‌شود.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای فاریاب از طریق ترمینل باربری میمنه به‌گونه منظم و شفاف خدمات انتقال اموال تاجران را به ولایات مختلف ارائه می‌کند.
- د کندهار ولایت په تخته‌پل ولسوالۍ کې د څه باندې ۲۳ میلیونه افغانیو په لګښت د تیرپارک جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي او کارونه یې ۳۰ سلنه پرمخ تللي دي.
- د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ د کابل د ټرانسپورټي نظم لپاره له اړوندو ادارو سره ناسته وشوه او د ټرافیکي ستونزو د حل لپاره د ګډ تخنیکي پلاوي پر ټاکلو پرېکړه وشوه.
- د بدخشان هوايي ډګر کارکوونکو ته د هوايي چلند امنیت تر عنوان لاندې شپږ ورځنۍ ښوونیز سمینار وړاندې شو.
- د تخنیکي خدمتونو او خوندیتوب ریاست له‌خوا د پکتیکا د ځمکني ټرانسپورټ کارکوونکو ته د وسایطو تخنیکي ارزونې، د جي‌پي‌اېس پلي کولو او خوندیتوب په اړه روزنیز سمینار وړاندې شو او موټرچلوونکو ته هم لازمې لارښوونې وشوې.
- غور ولایت کې د غور–کابل پر مسیر مسافروړونکو موټرو په نوي رنګ او ټرانسپورټي اصولو سره سم په رسمي ډول فعالیت پیل کړ.
- د کندوز ولایت په چهار درې او دښتې ابدان ولسوالیو کې د څه کم ۵۷ میلیونه افغانیو په لګښت د دوو تیرپارکونو جوړولو چارې روانې دي.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای بلخ برای کارمندانش در زمینه طرزالعمل تغییر بادی و شاسی وسایط نقلیه و تطبیق درست آن سمینار آموزشی برگزار کرد.
- ریاست خدمات تخنیکی و مصونیت برای کارمندان آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای زابل در زمینه بررسی تخنیکی وسایط، نصب دستگاه‌های ردیاب و نظارت بر هده‌ها و ترمینل‌ها سمینار آموزشی برگزار کرد.
- معین ترانسپورت جاده‌ای به ولایت هرات سفر کرده و از روند فعالیت و نظم ترمینل باربری گذره بازدید نموده و در زمینه حل مشکلات رانندگان هدایات لازم داد.
- د کندهار په لوېدیځ باغ پل سیمه کې د څه کم ۱٦۷ میلیونه افغانیو په لګښت د مسافروړونکي ترمینل جوړولو چارې روانې دي چې په بشپړېدو سره به یې مسافرو ته اسانتیاوې برابرې کړي.
- د غور ولایت واټ ټرانسپورټ کارکوونکو ته د منظور شوو طرزالعملونو او عملیاتي پلانونو په اړه درې ورځنۍ ښوونیز سمینار وړاندې شو.

## د سلواغې/دلوې میاشت:

- د ننګرهار ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست کارکوونکو ته د ټرانسپورټي چارو تنظیم، د اصولو پلي کولو او شفافیت په موخه د وسایطو د اسنادو طرزالعمل په اړه ښوونیز سمینار وړاندې شو.
- د کابل ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم لوی رئیس الحاج مولوي عبدالغفار فاروق د ده‌سبز ولسوالۍ د باروړونکو موټرو بین‌الولایتي ترمینل څخه لیدنه وکړه او د خدماتو د ښه والي او د موټرچلوونکو ستونزو د حل په اړه یې لارښوونې وکړې.

- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د مرغومي په میاشت کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ۱۱ زره او ۲۵۰ مسافروړونکو او باروړونکو موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوه.
- د پروژو مدیریت رئیس انجنیر بختیار اختیاري د کندهار ولایت باغ پل سیمه کې د مسافروړونکي ترمینل، د ابوالنصر فراهي باروړونکي ترمینل له چاپېریدونکي دیوال او د هرات ولایت د گذرې ملي او نړیوال مسافروړونکي ترمینل د جوړېدو له چارو لیدنه وکړه او د پروژې د کیفیت، چټکتیا او نړیوالو معیارونو پر رعایت یې ټینگار وکړ.
- د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه د وزارت مرکزي ریاستونو ۱۴۴ نویو کارکوونکو ته د اداري او مدیریت تر عنوان لاندې اته ورځنی ښوونیز سمینار وړاندې شو.
- د کارکوونکو چارو ریاست له لوري د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې لپاره د کمپیوټري پروگرامونو دوه میاشتنی ښوونیز پروگرام وړاندې شو.
- د اروزگان ولایت مرکز ترینکوټ کې د څه باندې ۳۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د مسافروړونکي ترمینل د جوړېدو چارې رواني دي چې دا مهال شاوخوا ۳۰ سلنه پرمختگ لري.
- ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی با همکاری یک نهاد، برنامه آموزشی پنج‌روزه‌ای را در زمینه تغییرات اقلیمی و هواشناسی برای کارمندان بخش تخنیکی برگزار کرد.
- ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت برای کارمندان آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بادغیس سمینار آموزشی پیرامون بررسی تخنیکی وسایط، نصب دستگاه‌های ردیاب و شیوه‌های نظارت بر فعالیت هده‌ها و ترمینل‌ها برگزار کرد.
- د وزارت دوهمي واحدونو د اسنادو وېش او احصائیې برخې کارکوونکو ته د ټرانسپورټي احصائیې راټولولو، توحید او د اسنادو وېش په اړه پنځه ورځنی ښوونیز سمینار وړاندې شو.
- ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت برای کارمندان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کندهار سمینار آموزشی بررسی تخنیکی وسایط ترانسپورتی و نظارت بر دستگاه‌های ردیاب برگزار کرد.
- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم رئیس د ټرانسپورټي بندرونو له کارکوونکو سره په ناسته کې د چارو تنظیم، له مراجعینو سره د ښه سلوک او د ټرانسپورټي اصولو پر پلي کېدو ټینگار وکړ.
- کار اعمار تیرپارک معیاری در ولسوالی باباجی ولایت هلمند به هزینه ۳۰ میلیون افغانی در ۱۷۱ جریب زمین جریان دارد و تاکنون حدود ۱۰ درصد پیشرفت داشته است.
- د پروژو مدیریت رئیس انجنیر بختیار اختیاري د هرات ولایت گذرې ولسوالۍ کې د باروړونکي ترمینل او اروزگان ولایت کې د مسافروړونکي ترمینل د جوړېدو له چارو لیدنه او د کیفیت او پرمختگ ارزونه یې وکړه.
- کار اعمار تعمیر آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کاپیسا به هزینه ۴ میلیون و ۴۳۲ هزار افغانی در دو طبقه نزدیک به تکمیل است و به‌زودی به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.
- د نیمروز ولایت چخانسور ولسوالۍ دوراهي سیمه کې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو پروژې چارې دا مهال نږدې ۱۵ سلنه پرمخ تللي دي.
- ریاست خدمات تخنیکی و مصونیت یک برنامه آموزشی یک‌روزه را برای شرکت‌های خصوصی در زمینه نصب و کارکرد دستگاه‌های ردیاب و نقش آن در کاهش حوادث ترافیکی برگزار کرد.
- د ننگرهار او نیمروز ولایتونو واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاستونو د ترافیکو له استازو سره د وسایطو معیاري کولو، تخنیکي ارزونې چټکتیا او د غیرقانوني څراغونو او د افغانستان خلاف لاس موټرو د مخنیوي په اړه ناستې وکړې.

- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم رئیس د چخانسور ولسوالۍ دوراهي سیمه کې د تیرپارک جوړېدو له چارو څارنه وکړه، چې دا مهال یې د چاپېرېدونکي دېوال کارونه روان دي.
- د واټ ټرانسپورټ قوانینو او معاهداتو ریاست د باروړونکو شرکتونو استازو ته د نړیوال واټ ټرانسپورټ سیستم (TIR) په اړه یو ورځنی ښوونیز سمینار وړاندې کړ.
- کار اعمار هده مسافربری ولایت‌های جنوب‌غرب کشور در ساحه کمپنی شهر کابل به هزینه بیش از ۲۸ میلیون افغانی ۹۵ درصد پیشرفت داشته و به‌زودی به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.
- د کندوز ولایت دښتي ابدان سیمه کې د څه کم ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو پروژه روانه ده، چې دا مهال نږدې ۲۵ سلنه پرمختګ لري.
- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د جي پي اېس شرکتونو له استازو سره د جي پي اېس الو د لګولو پروسې د چټکتیا په اړه ناسته وکړه.

## د کب/حوت میاشت:

- کار اعمار دیوار احاطوی ترمینل باربری ابوالنصر فراهی در ولایت فراه به هزینه ۳۹ میلیون و ۸۴ هزار افغانی جریان دارد که تاکنون ۳۶ درصد پیشرفت داشته است.
- ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت با نمایندگان شرکت‌های ردیاب و شرکت‌های ترانسپورتی نشست مشترک برگزار کرد و بر نصب و فعال نگهداشتن دستگاه‌های ردیاب در وسایط ترانسپورتی تأکید شد.
- د بلخ ولایت مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر کې د مسافرو انتظارځای او د موټرو تم ځای جوړولو پروژه نږدې ۲۵ سلنه پرمخ تللې ده.
- د هېواد له نړیوالو او کورنیو هوایي ډګرونو الوتنې په عادي او منظم ډول روانې دي او د مسافرو او سوداګریزو توکو د لېږد لپاره خدمتونه وړاندې کېږي.
- د فاریاب ولایت اقینې بندر کې د څه باندې ۱۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو پروژه روانه ده، چې دا مهال شاوخوا ۳۵ سلنه پرمختګ لري.
- کار اعمار تعمیر اداری ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت هلمند به هزینه ۱۲ میلیون افغانی نزدیک به تکمیل بوده و به‌زودی به بهره‌برداری سپرده خواهد شود.
- د کارکوونکو چارو ریاست له لوري د مرکزي ریاستونو کارکوونکو ته د هوایي چلند په برخه کې لس ورځنی ښوونیز سمینار وړاندې شو.
- د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د مسافروړونکو موټرو د کرایو له تطبیق څارنه وکړه او موټرچلوونکو ته د ټرانسپورټي اصولو د پلي کولو لارښوونې وشوې.
- کار اعمار ترمینل مسافربری ولایت زابل به هزینه ۲۷ میلیون و ۷۷۱ هزار افغانی به ۹۶ درصد پیشرفت رسیده و به‌زودی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده می‌شود.
- د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د اختر په ورځو کې په کابل او ولایتونو کې د څارنې ټیمونه ګمارلي وو، تر څو د ټاکل شوې کرایې سرغړونه ونه شي او د دې تر څنګ موټرچلوونکو ته د خوندي سفر سپارښتنې هم کیدې.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ننگرهار برای بهبود خدمات در ایام عید فطر، بر تطبیق جدی لایحه کرایه و رعایت اصول ایمنی از سوی رانندگان تأکید کرده و به مسئولان ترمینل‌ها برای جلوگیری از اخذ کرایه اضافی و تأمین نظم هدایت داد.
- مسئولان تنظیم ترانسپورت جاده‌ای بلخ برای تأمین نظم بهتر، از تطبیق لایحه کرایه، اسناد ترانسپورتی و وضعیت رانندگان نظارت کرده و بر انتقال مصؤن مسافران در ایام عید تأکید نمودند.



# په هوايي چلند کې

## دمرغانو او ژوو د خطرونو مدیریت

هوايي چلند د نړۍ له هغو سکټورونو څخه دی، چې خونديتوب (مصؤنيت) پکې د ټولو فعالیتونو بنسټيز او لومړنی اصل بلل کېږي. هره الوتنه، هره ناسته او د هوايي عملیاتو بهیر د دقیقو محاسبو، مسلکي مهارتونو او منظم مدیریت پر مټ ترسره کېږي.

په همدې لړ کې یو هغه مهم خو ډېر وخت هېر شوی فکټور چې د هوايي چلند په خونديتوب او عملیاتو مستقیم اغېز لري د مرغانو او ژوو د خطرونو مدیریت دی. دا مدیریت د هوايي ډګرونو هغه کړنلارې او فعالیتونه راسپړي، چې موخه یې د مرغانو او ژوو د حضور کمول، د ټکرونو مخنیوی او د الوتنو خوندي بهیر ډاډمنول دي.

په ګرده نړۍ کې د الوتکو ، مرغانو او ژوو ترمنځ د ټکر پېښې د هوايي ډګرونو لپاره یوه جدي اندېښنه ده. په داسې حال کې چې ډېرې پېښې ظاهراً کوچنۍ معلومېږي، خو اغېزې یې له تخنیکي زیانونو څخه نیولې تر انساني تلفاتو، د عملیاتو تر ګډوډیو او اقتصادي زیانونو پورې رسېږي.

د دې لپاره چې د هوايي چلند خونديتوب ډاډمن شي، لازمه ده چې د مرغانو او ژوو د خطرونو مدیریت د هوايي ډګرونو د خونديتوب له بنسټيزو ساحو څخه وشمېرل شي.

د مرغانو او ژوو د خطرونو د مدیریت تر ټولو لومړنی او مهم اهمیت د هوايي چلند خونديتوب دی. کله چې یوه الوتکه د الوتنې په حساسو پړاوونو (الوتنه، ناسته) کې د مرغانو یا نورو ژوو سره ټکر وکړي، د پېښې د شدت وړاندوینه یې ناشونې ده. یو ساده ټکر کولی شي د انجن د خرابېدو، د الوتکې د لید د بندېدو، د الوتنې د مسیر د ګډوډېدو او په بدترین حالت کې د جدي پېښو لامل شي.



د یادونې وړ ده چې د مرغانو ډېرى ټکرونه هغه مهال رامنځته کېږي، چې الوتکه د ځمکې له سطحې سره نږدې وي، چې پيلوټانو د عکس العمل د وخت اندازه خورا راکموي او د خطر کچه لوړوي. له همدې امله په هوايي ډګر کې د ژوو او مرغانو د خطرونو مديريت د هوايي چلند د خونديتوب له مهمو برخو څخه شمېرل کيږي.

تر دې ور هاخوا د مرغانو او ژوو د خطرونو مديريت د نړيوالو او ملي قوانينو او مقرراتو يوه مهمه برخه ده. د هوايي چلند نړيوال سازمانونه په کلکه ټينګار کوي، چې هر هوايي ډګر بايد د مرغانو او ژوو د خطرونو مديريت لپاره مشخص او معياري پلان ولري، په دې پلان کې د هوايي ډګر اداره مکلفه ده، چې د مرغانو او ژوو د خطر د کچې ارزونه وکړي، د خطر د کمولو لپاره علمي تګلارې او ميتودونه وکاروي او د دوامداره څار يا نظارت لپاره سيستم فعال وساتي. د دې مقرراتو نه پلي کول نه يوازې د خونديتوب په برخه کې جدي زيان رامنځته کوي، بلکې د هوايي ډګر په قانوني مسؤليت، نړيوال اعتبار او د تصديق په پروسو هم منفي اغېز لري.

پر دې ټولو سربېره، د مرغانو او ژوو د ټکرونو اقتصادي اغېزې د پام وړ دي. الوتکې د نړيوالې پانګې يوه ډېره لوړه بيه لرونکی شتمني ده او هر ډول تخنيکي زيان ورته په ميليونونو ډالرو ارزښت لري.

د مرغانو ساده ټکر کېدای سي د الوتکې انجن او يا نورو برخو ته زيان ورسوي، چې د بيا رغولو لګښت به يې ډېر لوړ وي، حتى ځينې وختونه د الوتکې د فلج کيدو سبب ګرځي. همدارنګه د يوې الوتکې د زيانمنېدو په پايله کې د الوتنو مهالوېش ګډوډېږي، مسافر له ځنډ سره مخ کېږي او د هوايي شرکت د عملياتو لړۍ له ستونزو سره مخامخ کېږي.

په دې توګه د مرغانو او ژوو د خطرونو مديريت يوازې د خونديتوب موضوع نه ده، بلکې د هوايي ډګرونو او هوايي شرکتونو د اقتصادي ثبات يوه مهمه تکيه هم ګڼل کېږي.

ترتيب کوونکی: حميدالله بارکزی (د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر د هوايي ترافيکو د څار برج فني غړی)




## په دوبۍ کې د نړۍ چټک

# ښاري ټرانسپورټي سیستم پیل

په دوبۍ کې د زیاتېدونکي ترافیکي ګڼه‌ګوڼې د ستونزې د حل لپاره یو ځانګړی او عصري ځمکلاندې ټرانسپورټي پروژه معرفي شوې ده، چې له امله به یې د ښاریانو د سفر وخت راکم کړي.
دا پروژه به په ښار کې ګڼه ګوڼه راکمه او د خلکو ورځنۍ تګ راتګ به لا اسانه کړي.
د دې عصري ټرانسپورټي سیستم لومړنۍ ازمېښتي مسیر به ٦ نیم کیلومتره اوږدوالی ولري.
دا پروژه چې لګښت یې څه باندې ٥٤٠ میلیون ډالره دی، په لومړي پړاو کې به څلور تر ځمکې لاندې تمځایونه جوړ شي، چې ډیزاینونه یې هم وړاندې شوي دي. دا تمځای به په برج خلیفه، DIFC ۲، زعبیل دوبۍ مال پارکینګ او ICD بروکفیلډ پالیس کې جوړ شي.
له دې سره به دوبۍ د امریکا تر لاس ویګاس وروسته د نړۍ دویم ښار وي چې د لوپ سیستم پکې جوړېږي.
د دوبۍ چارواکو د دې پروژې د جوړولو لپاره د امریکایي میلیاردر ایلن مسک له شرکت «دي بورینګ کمپنۍ» سره تړون لاسلیک کړی دی، چې د پروژې له بشپړېدو وروسته به ټول لوپ سیستم ۱۹ تمځایونه ولري او عمومي اوږدوالی به یې ۲۲.۲ کیلومتره وي.
چارواکي وايي چې د پروژې د لومړي پړاو جوړېدو چارې به د یو کال په موده کې او ټوله پروژه به د درېیو کلونو په موده کې بشپړه شي.

# خزانه

بزگر د مرگ په وخت کې خپلو لڼو زامنو ته وویل:

ـ ما په خپلو پټیو کې یوه خزانه پټه کړې ده. هغه پیدا کړئ .

لڼو زامنو د پلار له مړینې وروسته کرونده لټ په لټ واړوله، خو خزانه یې پکې ونه موندله.

د کښت وخت راورسېد. پټي هسې هم اړول شوي وو، غنم یې وکرل. چې درمندونه واخیستل شول، بیا د خزانې د موندلو اسره ورپیدا شوه ، پټي یې واړول، راواړول خو خزانه نه وه ، مګر د کښت لپاره ځمکه تیاره شوې وه.

دوی ورو ورو په کار عادت شول او دې نتیجې ته ورسېدل، چې پلار په همدې عادت د خزانې نوم ایښی و، ځکه لڼان په اوله کې له کاره وېرېږي او په دې نه پوهېږي چې په کار عادت کېدل یعنې د مطمئینې خزانې موندل.

(د ځنګل له کتاب څخه)

وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی ‹ معلوماتی ‹ فرهنگی



د سیلاب او تېزو اوبو پر مهال له تېرېدو ډډه وکړئ

د مسافرو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړئ